**د افغانستان اسلامي امارت**

**د پوهنې وزارت**

**د لغمان ولايت د پوهنې رياست**

**د کېفيت تضمين آمريت**

**د څارنې، ارزونې او راپور ورکونې عمومي مديريت**




# د لغمان ولايت د عملياتي پلان د راپور ورکولو کلنی تشريحي راپور

**د راپور ورکولو دوره: د ۱۴۰۳ مالي کال حمل څخه تر حوت پورې.**

فهرست


**د ۱۴۰۳ مالي کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ ........ 3**

**د لغمان ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 4**

**سریزه ........ 5**

**د کړنو لنډیز ........ 6**

**د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ ........ 10**

دویمه برخه: کېفیت او تړاو ........ 10

۱: ښوونې او روزنې پروګرام ........ 10

۲. اسلامي زده کړې ........ 13

۳. د کېفیت تضمین ........ 14

۴. سرچینې او اداره ........ 16

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 17

دویمه برخه: انډولیز لاسرسی ........ 18

۱: ښوونه او روزنه ........ 18

۲. اسلامي زده کړې ........ 21

۳. د کېفیت تضمین ........ 23

۴. سرچینې او اداره ........ 23

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 24

۳ برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکې مدیریت ........ 24

۱. ښوونه او روزنه ........ 24

۲. اسلامي زده کړې ........ 27

۳. د کېفیت تضمین ........ 28

۴. سرچینې او اداره ........ 28

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 30

**د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 34**

**تحلیل او پایلې ........ 35**

**د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........ 61**

**مالي رپوټ تحلیل ........ 62**

**ملپاڼې ........ 63**

## د ۱۴۰۳ مالي کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| اسم و تخلص | وظیفه | ایمیل ادرس | واتساپ شماره | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ( مولوی صدیق الله المعتصم بالله) | امر برنامه تعلیمات عمومی | Lghman.deo2014@gamil.com | 0781159605 | |
| مولوی شاه محمد (عرفانی) | امربرنامه تعلیمات اسلامي | Lghman.deo2014@gamil.com | 0787574377 | |
| عبدالمنان (عابد ) | امربرنامه منابع و اداره | Abdulmanabid18@gamil.com | 0766079996 | |
| عبدالرحمن (رحیمي ) | امر تضمین کیفیت | Rahimiab29@gamil.com | 0731454325 | |
| سمیع الدین ( اچکزی ) | مدیریت عمومی نظارت و ارزیابی | Sameudin11@gamil.com | 0775630908 | |
| محمداکل (الکوزی) | تحلیل | Mohammadagulalokozai@gamil.com | 0783746594 | |
| توریالی (امین زوی ) | وتوحید گزارشات | Mohammadagulalokozai@gamil.com | 0730291141 | |

تائید رئیس معارف

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مولوی شاه جهان (ساجد ) | رئیس معارف | Lghman.deo2014@gamil.com | 0702020538 | |

## د لغمان ولایت په هکله عمومي معلومات

لغمان ولایت د افغانستان یو د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه دی، چې په ختیځ کې قرار لري. د نوموړي ولایت ختیځ ته یې کنړ ولایت، لویدیځ ته یې کاپیسا او کابل ولایتونه، شمال ته یې نورستان او پنجشیر ولایتونه او جنوب ته یې ننګرهار ولایت قرار لري. د دې ولایت مرکز مهترلام دی؛ چې ۳۸۱۳ کېلومتره مربع مساحت لري. د مرکزي احصایې اداري معلوماتو له مخې په ۱۳۹۹ هـ ش کال کې د دې ولایت نفوس ۴۹۳۸۱۴ تنه ښوودل شوی دی. د دې ولایت زیات خلک په پښتو ژبه خبرې کوي او یو تعداد قومونه لکه پشه یې او تاجک په دې ولایت کې ژوند کوي. همدارنګه یو شمیر تلویزوني، راډیوي، مخابراتي او بانکي سیستمونه پدې ولایت کې فعال دي.

لغمان ولایت دوه مشهور سیندونه لري چې یو یې علینگار او بل یې د علیشنګ سیند دی، د یاد ولایت عمومي محصولات غنم، جوار، وریجې، کچالو، ګندنه، لېږو، بانجان، رومیان، ګلپیان او داسې نور... دي. نوموړی ولایت د ۱۰۰ کېلو متره په فاصله کې له کابل مرکز سره لرې موقعیت لري. او د بحر له سطحې څخه ۵۸۰ متره لوړوالی لري. دغه ولایت د مرکز په شمول ٦ ولسوالۍ لري چې عبارت دي: مهترلام، قرغه یې، علینګار، علیشنګ، دولت شاه او بادپښ؛ چې د یادو ولسوالیو له جملې څخه د دولت شاه ولسوالۍ په سړو سیمو کې؛ مهترلام، قرغه یې او بادپښ په تودو سیمو کې او علینګار او علیشنګ ولسوالۍ د تودو او سړو سیمو درلودونکي دي.

په دې ولایت کې د ښوونې او روزنې په برخه کې د خلکو لاس رسی له پخوا څخه ډېر شوی دی. په نوموړي ولایت کې ټول ۳۱۵ بابه ښوونیز مرکزونه موجود دي. چې له دې جملې څخه ۲۷۸ بابه دولتي او ۳۷ بابه خصوصي ښوونیز مرکزونه دي. د دولتي ښوونځیو په برخه کې ۱۲۲ بابه ثانوي، ٦۲ بابه منځني او ۹۴ بابه لومړني ښوونځي دي.

د اسلامي زده کړو په برخه کې ۱۲ بابه مدرسې، ۵ بابه دارالحفاظونه او ۲ بابه دارالعلومونه موجود دي. همدارنګه په یاد ولایت کې ۵ بابه د ښوونکو د روزنې، ۲ بابه د سواد زده کړې ښوونځي او ۱۴۸ بابه د سواد زده کړې دولتي او غیرې دولتي کورسونه فعالیت کوي.

کلي او بانډې د دې ولایت له مرکز څخه په لرې ساحو کې پرتې دي چې د وګړو د ژوند او تعلیم سطحه یې یو له بل سره فرق لري. نو په همدې بناء ۷۱۸۲۹ تنه وګړي په مرکز او ۱۲۳۸۱۰ تنه وګړي په کلیو او بانډو کې په تعلیم بوخت دي. همدارنګه په دې ولایت کې یو د خصوصي پوهنتون تر څنګ یو دولتي پوهنتون چې د انجینري، زراعت، اقتصاد، ژبو او ادبیاتو او د ښوونې او روزنې ځانګې په کې شتون لري په فعالیت بوخت دي.

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدالله رب العلمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. اما بعد:

پوهنې وزارت د ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان چې د اهدافو د څېړونو په منظور په دریو برخو کېفیت او تړاو، انډولیز لاسرسی او آغیزمن، روڼ اوځواب ویونکې مدیریت د لغمان ولایت د پوهنې ریاست په کچه تنظیم کړی دی. چې د کړنو تطبیق او پرمختګ راپور په درې میاشتني توګه اړوندو ځانګو څخه په خپل وخت رهبری مقام او ملاتړو ادارو ته ورکول کېږي.

د درې میاشتني راپورونو د وړاندې کولو څخه هدف د مربوطه ځانګو د عملیاتي پلان له تطبیق څخه ځان مطمئن کول او په معین او ټاکلي وخت کې د ستونزو پیژندل تر څو د مختلفو جهتونو د پرمختګ څخه اطمینان حاصل شي.

د مخکنیو راپورونو د تسلسل په نظر کې نیولو سره د لغمان ولایت د پوهنې ریاست د ۱۴۰۳ مالي کال د څلورو ربعو (کلنی) راپور د عملیاتي پلان د تطبیق او پرمختګ لپاره چې د کېفیت او تړاو، انډولیزلاسرسی، آغیزمن، روڼ او ځواب ویوونکې مدیریت کړنې په کې واضحه شوي دي د اعتبار وړ دی. نوموړی راپور د لاندې ۷ برخو درلودونکې دی.

دویمې برخه: د کړنو لنډیز

دویمه برخه: د پوهنې د درې ګونو عرصو پربنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

دریمه برخه: غیرې پلاني فعالیتونه او لاسته راوړنې

څلورمه برخه: تحلیل او پایلې

پنځمه برخه: دپام وړستونزې او وړاندیز شوې حل لارې

شپږمه برخه: مالي راپور تحلیل

اوومه برخه: ملپاڼې

# دویمې برخه

## د کړنو لنډیز

## دویمې برخه: کېفیت او تړاو

### ۱. ښوونه او روزنه

- د لغمان ولایت پوهنې ریاست اړوند مرکز او ټولو ولسوالیو پوهنې آمریتونو کې ۲۸۵ بابه سواد زده کړې کورسونو څخه د سواد زده کړې مدیریت له لوري څارنه ترسره شویده.
- د مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۴۹ تنو د مسلکي پراختیا ښوونکو ته د پوهنې جلیله وزارت دمسلکي پراختیا ریاست د ترینرانو لخوا ۸ ورځنی ورکشاپ ورکړل شوی دی.
- د لغمان ولایت مرکز، علینگار او علیشنگ والسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۳۸۷ تنه نارینه ۹ تنه ښځینه ښوونکو ته ساینس، ریاضي او کمپیوتر په برخه کې په دوره یې شکل ورکشاپ دایر شوی دی.
- علینگار، علیشنگ او قرغیو پوهنې آمریتونو اړوند ۶۰ تنو ښوونکو ته د کولمو د چینجیوضد گولیو پوهاوی په اړه یو ورځنی ورکشاپ دایر شوی دی اوهمدارنگه ۱۷۶۵۸ تنو زده کوونکو ته د روغتیا په برخه کې عامه پوهاوی ورکړل شوی دی.
- د لغمان مرکز پوهنې آمریت اړوند ۴ تنو سواد ښوونکو ته د مسلکي ښوونکو له لوري ۱ ورځنی ورکشاپ ورکړل شوی دی.

### ۲. اسلامي زده کړې

- د مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۶۴۵ تنو طالب العلمانو او زده کړیالانو تر منځ علمي سیالی په لاره اچول شوېدي.
- د مرکز او علینگار دارالعلوم د اداري اوتدرسي ۲ تنو علمي غړو له لوري کتنه تر سره شو بده چې په پایله کې ۸ اړتیاوې په نښه شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمریت اړوند دوه تنو نویو مقرر شوو کار کوونکو ته د ښه سلوک، اداره او منجمنټ په اړه څلور ورځنی ورکشاپ ورکړل شوی دی .
- د اسلامي زده کړو آمریت له لوري مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۳۵۹ بابه مدرسو او دارالحفاظونو د اړتیاوو د معلومولو په موخه څارنه ترسره شوې ده چې په پایله کې ۱۵۵ اړتیاوې په نښه شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمریت په اجرائیه مدیریت کې د عالیه او عالمیه دورو کې ۳۴۵ تنو فارغانو نومونه ثبت شوي وه د عالیه او عالمیه دورو فارغانو ازموینه د لغمان پوهنتون کې د ۱۴۴۶ کال د رجب په میاشت کې ازموینه واخیستل شوه.

### ۳. کېفیت تضمین

- د یونیسف خیریه موسسې په لوري د مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۳۴۶ تنو دولتي او خصوصي ښوونځیو آمرینو او مدیرانو ته د احصائیوي ارقامو راټولو په موخه د ظرفیت لوړوني دوه ورځنی ورکشاپ ورکړل شو.
- د لغمان پوهنې ریاست له لوري په مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو کې ۲۳۵۲ قطعه شهادتنامې په گروپې ډول ویشل شوي دي او ۱۸۳ قطعې شهادتنامې تر کار لاندې دي.
- د لغمان ولایت مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۶۶ بابه دولتي ښوونځیو او ۴ بابه خصوصي ښوونځیو نتایج د پوهنې وزارت له لوري تطبیق او تائید شوي دي او همدارنگه ۴۲۱ تنو سامع زده کوونکو نتایج تدقیق شوي دي.

- د پوهنې وزارت ۲ تنه ترینرانو لخوا د لغمان ولایت پوهنې ریاست په مقام کې ۴۲ تنو آمرینو او مدیرانو ته د راپور جوړولو او انلاین سیستم په موخه ۴ ورځنی ورکشاپ ورکړل شو او همدارنګه د څارنې، ارزونې او راپور جوړولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونې په اړه د برنامو آمرینو اړوند ۱۰ تنو مدیرانو او ٦ تنو ولسوالیو پوهنې آمرینو ته ځانګړی ورکشاپ ورکړل شوی دی.
- د څارنې ، ارزونې او راپور ورکونې مدیریت او د پوهنې وزارت له لوري دپلانونو د تطبیق څخه ربعواره څارنه ترسره شوې ده.
- د پوهنې وزارت له لوري د راپور ورکولو انلاین سیستم فعال شوی دی.
- د پوهنې وزارت د کېفیت تضمین معینیت ٦ کسیز هیئت له لورې په مرکز، علینګار، علیشنګ او قرغیو پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې ۷۲۰ تنه زده کوونکي د ریاضي د پوهې په اړه ارزونه ترسره کړې ده.
- د پوهنې وزارت د کېفیت تضمین معینیت ۴ کسیز هیئت له لورې د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخه کې د برنامو ۲۱ تنه کارکوونکو ته روزنه ورکړل شوې ده.

### ۴. سرچینې او اداره

- د لغمان ولایت د پوهنې ریاست ۴ تنه د نوي ګمارل شویو کارکوونکو ته د لغمان ولایت د مقام په مالي مرسته د اداري اصولو او مالي چارو په برخه کې ۲ ورځنی ورکشاپ ورکړل شوی دی او همدارنګه ۵ تنه کارکوونکو ته د پوهنې ریاست په هسته کې د پوهنې وزارت استادانو لخوا ۲ ورځنی ورکشاپ ورکړل شو.
- د لغمان ولایت د پوهنې ریاست اړوند ۱۹ د غصب شویو، نیول شویو او دعوایې ځمکو بررسي څخه ۹ قضیې تر تعقیب او کتنې لاندې دي.

### ۵. ریاست اړوند فعالیتونه

- د پوهنې وزارت له لوري ۴٦۴ عرفان مجلې، ۳۲۷ بخوان مجلې او ٦۱۰ ګڼې اوونیزې رارسیدلي دي چې د پوهنې ریاست شعباتو، مرکز پوهنې آمریت او ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته د خپلې سهمې مطابق ورکړل شوې دي.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

### ۱. ښوونه او روزنه

- د لغمان ولایت د پوهنې ریاست په کچه په ګرمواو سړو سیمو ښوونځیو کې ۲۰۷۷۵ تنه نوي زده کوونکي جذب شوي دي چې له دې جملې څخه یې ۱۲۰۷٦ تنه نارینه او ۸٦۹۹ تنه یې ښځینه دي.
- د لغمان پوهنې ریاست د مرکز پوهنې آمریت اړوند د برم په نوم یو ښوونځي او د علینګار پوهنې آمریت اړوند د علینګار په نوم یو ښوونځی تاسیس شوی دی.
- لغمان ولایت ته ۹۵ تنه زده کوونکي چې له بهر څخه راستانه شوي دي د ټولګیو د تثبیت لپاره یې اسناد طی مراحلو وروسته ټولګې تثبیت شوي دي.
- د لغمان ولایت مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۲۰۲ بابه سواد زده کړې کورسونو کې ۳۵۱٦ تنه نالوستي کسان جذب شوي دي.
- د لغمان پوهنې ریاست اړوند ۲ بابه خصوصي ښوونځي نوي تاسیس شوي، د شپږ بابه ښوونځیو جوازونه تمدید شوي او همدارنګه یو باب حضرت صهیب خصوصي کورس نوی تاسیس شوی او د یو باب نړیوال خصوصي کورس جواز تمدید شوی دی.
- د لغمان پوهنې ریاست له لورې ۲۲۵ تنه هغه زده کوونکي چې د مالي اړخه کمزوري وو خصوصي ښوونځیو ته وروپیژندل شوي دي.

### ۲. اسلامي زده کړې

- د لغمان ولایت پوهنې ریاست اړوند مرکز او ولسوالیو کې ټولټال ۱۷۱ بابه مدرسې کنترول او څارنه ترې ترسره شوې ده.
- د لغمان پوهنې ریاست له لورې د حافظانو د سویې د تثبیت په موخه د ۴۶۰ تنه حافظانو څخه د کامل الحفظ ازموینه واخیسته چې په پایله کې ۳۶۳ تنه حافظان نو سویه تثبیت شوه او همدارنګه علماء کرامو ۲۲۴ تنه علماء کرامو څخه د تثبیت سویه ازموینه واخستل شوه.
- د مرکزي هستې مدرسو مسلکي چارو د پراختیا علمي غړو له لورې د ظرفیت لوړونې په موخه د خصوصي مدرسو ۱۱ تنه آمرینو، ۴۴ تنه استادانو او ۵ تنه مدیرانو ته چې ټولټال ۶۰ تنه کیږي یو ورځینی ورکشاپ ورکړل شوی دی.
- د لغمان ولایت مرکزي دارالعلوم لپاره د اسلامي زده کړو آمریت له لوې ٦٦ تنه جدید الشمولانو جذب تر سره کړی او د لومړۍ دورې ۵۸ تنه هلکان او ۲۰ تنه نجونې جذب تر سره شوی دی.

### ۴. سرچینې او اداره

- د لغمان ولایت د پوهنې ریاست اړوند بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول په مرکز، علیشنګ، قرغیو، علینګار او دولت شاه ولسوالۍ کې ټولټال ۱۰ بابه ښوونځیو د ساختماني موادو د نرخونه راټول او اړوند ادارو ته معلومات ورکړل شوي دي.
- د لغمان پوهنې ریاست د معارف پاله خلکو له لارې د ۱ جریب او ۱۵ بسوې شخصي ځمکه د مدرسې لپاره ورکړل شوې ده.
- د لغمان ولایت مرکز پوهنې آمریت اړوند د بدیع الاباد هلکانو لیسې ۹۰۰ متره مربع ځمکې ساحه د غاصبینو د ولکې لاندې وه د غصب له منګولو خلاصه او د ښوونځي په واک کې ورکړل شوه.

## دریمه برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکې مدیریت

### ۱. ښوونه او روزنه

- مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۱۴۵ بابه ښوونځیو شوراګانو څخه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.
- مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۹۶۹ بابه عمومي ښوونځیو، ۵۹ بابه خصوصي ښوونځیو، ۲۸۵ بابه د سیمه ایزو ټولګیو، ۵۱ بابه چټکو زده کړو ټولګیو څخه څارنه ترسره شوې ده.
- مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې ۳۸۰۰ تنه ښوونکو، ۳۳۲ تنه سرښوونکو، ۳۰۲ تنه مدیرانو او ۱۱۰ تنه د سواد زده کړو ښوونکو مشاهده ترسره شوې ده.
- د لغمان ولایت مرکز پوهنې آمریت اړوند په ۱۴۲ بابه ښوونځیو کې ۳۰۴۶ تنو زده کوونکو او ۴۶ تنو د څارندوی ښوونکو د مشترکو همکاریو په اساس د مخدره موادو په ضد کمپاین تر سره شوی.
- د لغمان ولایت مرکز پوهنې آمریت اړوند ۳۰ تنو ورزش کارانو ترمنځ سیالی تر سره شوې له دې جملې څخه ۳ تنه ورزش کاران ولایتي سیالیو ته غوره شوي دي.

### ۲. اسلامي زده کړې

- د څوارلسم ټولګیو ته بریالي شوو علماؤ کرامو د ارزول شوو سندو له جملې ۳۵۸ قطعه سندونه له مرکز څخه راغلي وو چې علماء کرامو ته ویشل شوي دي.
- د څوارلسم ټولګي علماو کرامو د مشترکې ازموینې د ارزونې له لارې ۲۱۱ قطعې شهاتنامې ویشل شوي دي.
- مرکز، علنیګار او قرغیو پوهنې آمریتونو اړوند ۸۹ تنو حافظانو د قرات او تجوید په برخه کې دلغمان ولایت د عیدګاه مسجد کې ازموینه کې ګډون کړی وه له دې جملې څخه ٦٠ تنه حافظان کامیاب او په جوایزو ونازول شول.

### ۳. سرچینې او اداره

- په لغمان ولایت کې د بشري سرچینو مدیریت له لورې د راجستریشن په سیستم کې ۳۴۸ خالي بستونه مشخص شوي دي.
- د لغمان ولایت پوهنې ریاست له لورې استخدام ریاست ته د ۱۰۳۸ تنو د تقرر او تبدیلی په هکله معلومات ورکړل شوي دي.
- د لغمان ولایت پوهنې ریاست اړوند ۱۷۰ تنو کارکوونکو ته د هویت کارتونه د پوهنې وزارت له لورې ورکړل شوي دي.
- د لغمان ولایت په کچه په تشو بستونو کې ۹۲ تنه کارکوونکي، ۱۲۷ تنه ښوونکي او ۹۹۵ تنه استادان نوي ګمارل شوي دي چې د دوی د ګمارلو ښه مدیریت ترسره شوی دی.
- مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۱۵۳۳ تنو ښوونکو قدمونه، ۵ تنو ښوونکو بستونه او ۴۰ تنو کارکوونکو قدمونه کې لوړوالی راغلی دی.
- د لغمان ولایت په کچه په شرایطو برابر ۱۱۴ تنه کارکوونکو تقاعد اجراء شوی دی.
- د لغمان ولایت په کچه ۲۴ بابه کرایې کورونه د تدارکاتو مدیریت لخوا په کرایه نیول شوي او د جایدادونو د قراردادونو چارو څخه څارنه او مدیریت هم په درست ډول ترسره شوی دی.

### ۴. ریاست اړوند فعالیتونه

- د لغمان پوهنې ریاست له لورې متحدالمال ۹۷۲ تعقیبي مکتوبونه، ۹۲۲ متفرقه مکتوبه او پوهنې وزارت ته ۳۱۷۵ سندونه لیږل شویدي. ۱۸۹۹ سندونه د پوهنې وزارت له لورې رالیږل شوي دي او همدارنګه ۲۰۷ قطعې وړاندیزونه پوهنې وزارت ته لیږل شوي دي.
- د لغمان ولایت په کچه د پراختیایي پروژو د کانسپت نوټونو تحلیل، انسجام او توحیدولو په برخه کې د انکشافي پروژو ۱۰ داني کانسپت نوټونه د (TWG) غونډې تر تائید وروسته (PDC) غونډې ته د منظورۍ په برخه کې لیږل شوي دي.
- د لغمان پوهنې ریاست ۲۰۰ تنه کارکوونکو ته د اسلامي شریعت د احکامو په رڼا کې د صورت او سیرت اصلاح په برخه کې توصیه ورته شوې ده.

## د پام وړ ستونزې

- د پوهنې وزارت له لورې د هر کال پلان په وخت نه رارسیدل
- د پوهنې ریاست د ضروریاتو لپاره مناسبه بودیجه نه مشخص کول

## حل لارې

- د پوهنې وزارت له لورې باید هر کال د مخه پلان په وخت راورسیږي تر څو ورځیني کارونه د خنډ او ځنډ سره مخ نشي.
- د پوهنې وزارت له لورې باید د لغمان پوهنې ریاست ته د ضرورت په بناء بودیجه مشخصه شي.

## دویمه برخه

## د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

### دویمه برخه: کیفیت او تړاو

**تولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشید، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوئ به د ټولنیزې هوساینې په بهیر کې د آغېزمنې ونډې اخیستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

### ۱: ښوونې او روزنې پروګرام

**۱,۱ فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د سواد زده کړې د اړتیاو د معلوملولو لپاره د پوهنې ریاست د سواد زده کړو مدیریت له لورې د مرکز اړوند ۹۰ بابه، علینګار پوهنې آمریت اړوند ۵۵ بابه، علیشنګ پوهنې آمریت اړوند ۳۰ بابه، قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۶۰ بابه، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۳۰ بابه او بادپښ پوهنې آمریت اړوند ۲۰ بابه؛ چې ټولټال ۲۸۵بابه د سواد زده کړې کورسونه کېږي، چې دفعاتو له مخې تړې څارنه ترسره شوې ده.

**۱,۲ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت په کچه دعلمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړولو په برخه کې د پوهنې جلیله وزارت د ښوونکو دمسلکي پراختیا ریاست څخه د راغلي ۸ تنوترینرانو له لوري د مرکزي هستې اړوند ۱۵ تنو علمي غړو ته علینګار پوهنې آمریت اړوند۷ تنه، د قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۸ تنه، علشنګ پوهنې آمریت اړوند ۷ تنه، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۷ تنه او بادپښ پوهنې آمریت اړوند ۵ تنه؛ چې ټولټال ۴۹ تنه علمي غړي کېږي؛ د لغمان ولایت په مرکز د څلاند هوټل په تالار کې ۸اته ورځینې ورکشاپ د یونیسف په مالي لګښت ورکړل شو، چې پدې ورکشاپ اخیستو سره د علمي غړو په ظرفیت لوړونه کې تغیرات راغلي دي .

**۱,۳ فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې ترپایه پورې د علمي افکارو، مسولیت منلو او ښه چلند په برخه کې د پوهنې وزارت د ښوونکو د مسلکي پراختیا ریاست څخه راغلي هئیت له لورې د مرکز پوهنې آمریت اړوند ۱۳ تنه، علینګار پوهنې آمریت اړوند ۷ تنه، علیشنګ پوهنې آمریت اړوند ۷ تنه، د قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۸ تنه، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۸ تنه او بادپښ پوهنې آمریت اړوند ۷ تنه مسلکي غړو ته؛ چې ټولټال ۵۰ تنه کېږي، د ننګرهار ولایت د دارالمعلمین په مقر کې د دولت په مالي لګښت ۴ ورځنی ورکشاپ ورکړل شوی؛ چې په پایله کې یاد د ورکشاپ ګډون وال د علمي افکارو، مسؤولیت منلو او ښه چلند په برخه کې معلومات ترلاسه کړل.

**۱,۴ فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلي کېدو په موخه لازم چمتوالی؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلي کېدو په موخه د علمي غړو، ښوونکو او جواز ورکولو سیستم چې د ارزونې په بنسټ ترسره کېږي د ښوونکو د مسلکي پراختیا لوی ریاست د دې پروسې د تطبیق په اړه کوم هئیت نه دی راغلی چې لازم چمتوالی ونیول شي.

**۱,۵ فعالیت: د لابراتوارنو د اړتیاوو معلوملولو لپاره سروې او په لغمان ولایت کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ کال د څلورمې ربعې ترپایه پورې د لابراتوارونو د اړوتیاوو معلومولو لپاره سروې او په لغمان ولایت کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنې ترسره کولو لپاره د پوهنې وزارت ساینس مرکز ریاست لارښوونې په اساس د لغمان پوهنې ریاست د ساینس مدیریت له لورې د یاد ولایت د مرکز پوهنې آمریت په شمول ۶ ولسوالیو (علینګار، علیشنګ، قرغیو، دولت شاه او پادپښ) ښوونځیو کې ۲۷۷ بابه لابراتوارونو په برخه کې او ۱۲۰ بابه کمپیوترلیبونو په برخه کې سروې او حمایوي څارنې ترسره شوي دي.

| شماره | ولسوالي | د لابراتوارونو د اړتیاوو معلومولو سروې او ترسره شویو پروګرامونو حمایوي څارنو شمیر | | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| | | لابراتوارونو شمیر | کمپیوترلیبونو شمیر | |
| ۱ | مرکز پوهنې آمریت | ۵۴ | ۳۱ | |
| ۲ | علینګار | ۷۵ | ۴۰ | |
| ۳ | علیشنګ | ۵۳ | ۱۹ | |
| ۴ | قرغیو | ۵۱ | ۱۸ | |
| ۵ | دولت شاه | ۳۷ | ۸ | |
| ۶ | پادپښ | ۷ | ۴ | |
| ټولټال | | ۲۷۷ | ۱۲۰ | |

**۱,۶ فعالیت: د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د مرکز پوهنې آمریت په شمول ۶ ولسوالیو کې ۲۷۷ بابه ښوونځیو کې د لابراتوارونو او ۱۱ بابه لیسو کې کمپیوټرلیبونو په برخه کې د مرکز ساینس عمومي مدیریت دعلمي مسلکي غړو لخوا څارنه ترسره شوې او همدارنګه د یادو علمي مسلکي غړیو لخوا په دواړو برخو کې د اجناسو د استعمال لارې اړوندو ښوونکو او زده کوونکو ته ښودل شوي دي د دې ترڅنګ ساتنې او پاملرنې په برخه کې لازمي لارښوونې هم ترسره شوي دي.

| شماره | ولسوالي | د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه | | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| | | په ښوونځیو کې لابراتوارونو شمیر | په لیسو کې د کمپیوترلیبونو شمیر | |
| ۱ | مرکز پوهنې آمریت | ۵۴ | ۳۱ | |
| ۲ | علینګار | ۷۵ | ۳۱ | |
| ۳ | علیشنګ | ۵۳ | ۱۹ | |
| ۴ | قرغیو | ۵۱ | ۱۸ | |
| ۵ | دولت شاه | ۳۷ | ۸ | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۶ | بادپښ | ۷ | ۴ | |
| | ټولټال | ۲۷۷ | ۱۱۱ | |

**۱٫۷ فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ساینس مرکز عمومي مدیریت غړو لخوا د مرکز پوهنې آمریت اړوند ۲۰ تنو ښوونکو ته د عملي تجربو په برخه کې درې ورځنی ورکشاپ، علي خیلو هلکانو او نجونو لیسو کې ۷۳ تنو ښوونکو ته چې له دې جملې څخه ۹ تنه ښځینه ښوونکي دي؛ د ساینس، ریاضي او کمپیوټر عملي تجربو په برخه کې پنځه ورځنی ورکشاپ، د علینګار پوهنې آمریت اړوند ۱۳۱ تنه ښوونکو ته د ساینس، ریاضي او کمپیوتر په برخه پنځه ورځنی ورکشاپ، علیشنګ پوهنې آمریت اړوند ۶۵ تنو ښوونکو ته د ساینس او ریاضي د عملي تجربو په برخه کې پنځه ورځني ورکشاپ، د قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۱۱۸ تنو ښوونکو ته د ساینس او ریاضي د عملي تجربو په برخه کې دوره یې ورکشاپ دایر شوی دی؛ چې ټولټال ۴۰۷ تنه ښوونکي کېږي، روزل شوي دي او همدارنګه د مرکز ساینس ریاست څخه کوم هئیت ندی راغلی چې علمي غړي وروزي.

**۱٫۸ فعالیت: د پوښښ لاندې ښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل برخه کې د روزنیزو ورکشاپ دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل برخه کې کومې خیریه موسسې یا بل کوم نهاد همکاري نده کړې.

**۱٫۹ فعالیت: د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځیو د اداري غړو د ظرفیت لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د ظرفیت لوړونې په برخه کې کومې ځانګړې بودیجې نشتون له امله یاد فعالیت نه دی تر سره شوی او نه ملاتړ کوونکو موسساتو په دې برخه کې همکاري کړې چې معلول ماشومان او ښوونکي له دې څخه ګټه واخلي.

**۱٫۱۰ فعالیت: د مسلکي غړو له خوا په لغمان ولایت کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin په برخه کې د ځارندوي د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په لغمان ولایت کې د روغتیا مدیریت لخوا Dewormin (WASH) په برخه کې د پوهنې جلیله وزارت د ښوونځیو د روغتیا مدیریت له لورې د علینګار، علیشنګ او قرغیو پوهنې آمریتونو اړوند ۶۰ تنو ښوونکو ته Dewormin تر عنوان لاندې یو ورځنی ورکشاپ د خوړو نړیوالو پروګرام WFP په مالي لګښت د لغمان ولایت د ځلاند هوټل په تالار کې ورکړل شوی دی.

او د روغتیا مدیریت د کارکوونکو له لورې په مرکز او ولسوالیو کې ۱۷۶۵۸ تنه زده کوونکو ته عامه پوهاوی ورکړل شوی دی او همدارنګه دبدني روزنې مدیریت له لورې ۴۶ تنو غیر مسلکي ښوونکو او ۱۱۴ تنو اصولي صنفي ښوونکو ته بدني روزنې ورکشاپ ورکړل شوی دی.

**۱٫۱۱ فعالیت: د ځان ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د لغمان ولایت د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کېفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې په لغمان ولایت کې تر سره کېږي.

**۱٫۱۲ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، کړنلارو او لارښودونو د معرفي په هکله د ښوونکو مسلکي او پراختیا ټیم له لوري ۴ تنو ښوونکو ته یو ورځنی ورکشاپ د سواد زده کړې مدیریت کې دایر شوی دی.

**۱،۱۳ فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د سواد زده کړو پرواګرامونو د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، دولتي او غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ نه دی ترلاسه شوی، ځکه چې تراوسه پورې چا د سواد زده کړې مدیریت سره کومه همکاری نده کړې.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲،۱ فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په لغمان ولایت کې دوه بابه دارالعلومونه موجود دي تر اوسه پورې د بل دارالعلوم لپاره کومې مدرسې معیار ندی پوره کړی.

**۲،۲ فعالیت: د طالب العلمانو او زده کړیالانو ترمنځ د علمی سیالیو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت له لوري ۶۴۵ تنو طالب العلمانو او زده کړیالانو ترمنځ د الحالج دینا ګل جامع مسجد کې علمي سیالی په لاره اچول شوې وه چې له دې جملې څخه ۲۰۰ تنه زده کړیالان کامیاب شوي دي د جوایزو د ورکړې په خاطر د پوهنې ریاست په تالار کې د جناب والي صاحب، پوهنې رئیس، د علماؤ شورا رئیس او د مختلفو ارګانونو رئیسانو چې ټول ۲۰۰ تنه کېدل، پکې ګډون کړی وو چې د یادو کامیابانو له جملې څخه د لومړی درجې۳ تنو زده کړیالانو ته یو، یو عدد لیټاپ کمپیوتر، دویمه درجې ۳ تنو زده کړیالانو ته یو، یو جلد قرانکریم او۳۰۰۰ افغانۍ او دریمه درجه ۴ تنو زده کړیالانو ته یو، یو جلد قرانکریم او ۳۰۰۰ افغانۍ نقدي جوایز د یادو ګډونوالو په حضورداشت کې ورکړشول چې مالي لګښت یې د دولت په غاړه وو او همدارنګه ګډونوالو ته د غرمې د ډوډۍ ترتیبات هم نیول شوی وو.

**۲،۳ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غږو لېږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت د دوه دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او اړتیاوو معلوملو لپاره د اسلامي زده کړو آمریت لخوا دوه تنه علمي او تدریسي غړي لیږل شوي وو، مرکز دارالعلوم او علینګار دارالعلوم کې ۸ اړتیاوې په نښه شوي دي.

**۲،۴ فعالیت: په لغمان ولایت کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورم تر پایه پورې د لغمان ولایت پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو امریت کې د دوو تنو نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په موخه د اصلاحات اداري د دوه تنو ترینرانو لخوا د پوهنې ریاست په تالار کې د ښه سلوک، اداره او منجمنټ په برخه کې څلور ورځنی ورکشاپ ورکړل شو او مالي امکانات یې نه درلودل.

**۲،۵ فعالیت: په لغمان ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند ۳۵۹ بابه د مدرسو او دارالحفاظونو له اداري او تدرسې چارو څخه بیا کتنه ترسره شوې ده د مرکز پوهنې آمریت اړوند ۸۶ بابه مدرسو او دارالحفاظونو، علینګار پوهنې آمریت اړوند ۹۱ بابه مدرسو او دارالحفاظونو، علیشنګ پوهنې آمریت اړوند ۵۲ بابه مدرسو او دارالحفاظونو، قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۵۹ بابه

مدرسو او دارالحفاظونو، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۴۷ بابه مدرسو او دارالحفاظونو او بادپښ پوهنې آمریت اړوند ۲۴ بابه مدرسو او دارالحفاظونو بیا کتنه ترسره شوې ده چې په نتیجه کې ۱۵۵ اړتیاوې په نښه شوي دي.

**۲,۶ فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان پوهنې ریاست په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتولو په اړه کوم ځانګړی ډیټابیس وجود نلري.

**۲,۷ فعالیت: په لغمان ولایت کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته نوي درسي کتابونه ندي راغلي نو په همد اساس کوم ورکشاپ هم نه دی ورکړل شوی.

**۲,۸د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول.**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د مدرسو څخه د عالیه او عالمیه دورو ۳۴۵ تنوطالب العلمان چې فارغ شوي وو د ازموینې لپاره د اسلامې زده کړو آمریت په اجرائیه مدیریت کې نومونه یې ثبت شوي دي د عالیه او عالمیه دورې ازموینه په ۱۴۴۶ هـ ق کال د رجب په میاشت کې لغمان ولایت پوهنتون کې واخیستل شوه چې نوره پروسه یې د لوړو زده کړو وزارت پورې مربوط ده.

## ۳. د کېفیت تضمین

**۳,۱ فعالیت: د لغمان ولایت ولسوالیو په کچه د کېفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې دلغمان ولایت ولسوالیو په کچه د کېفیت لرونکو احصائیوي ارقامو راټولولو په موخه د پوهنې وزارت داحصایې او معلوماتو محترم ریاست څخه د راغلو ۱٦ تنو ترینرانو لخوا د مرکز پوهنې آمریت اړوند ۹۲ تنو، قرغیو پوهنې آمریت اړوند ٦۵ تنو، علینګار پوهنې آمریت اړوند ۸۳ تنو، علیشنګ پوهنې آمریت اړوند ۵۷ تنو، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۴۲ تنو او باد پښ پوهنې آمریت اړوند ۷ تنو چې ټول د دولتي او خصوصي ښوونځیو۳۴٦ تنه مدیران کېږي د هرې ولسوالی په مرکز کې داحصایوي فورمو د ډکولو په موخه ورته ۲ ورځنی ورکشاپ دایر شوی چې مالي لګښت یې د یونیسف خیریه موسسې لخوا ورکړ شوی دی.

**۳,۲ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو ۱۰٪ کتنه او تصدیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په لغمان ولایت کې د ۱۴۰۲ کال د احصائیوي او معلوماتي مدیریت لخوا ۲۰٪ فیصده ښوونځیو څخه د ارقامو د تصدیق په موخه څارنه تر سره شوې ده چې راپور یې ترتیب شوی دی.

**۳,۳ فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشر کول نه دي تر سره شوي ځکه چې د پوهنې وزارت لخوا یاد فعالیت ترسره کېږي.

**۳,۴ فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې دا فعالیت پوهنې وزارت له لوري تر سره کیږي.

**۳,۵ فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د دې په اړه د پوهنې وزارت له لورې لارښوونه نه ده شوې او نه هم څوک راغلي.

**۳,٦فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د شهادتنامو مدیریت له لورې ۲۳۵۲ قطعې شهاتنامې ترتیب، تدقیق او د طی مراحلو څخه وروسته په مرکز او ټولو والسوالیو کې په گروپي ډول ویشل شوي دي او ۱۸۳ قطعې شهاتنامې تر کار لاندې دي.

**۳,۷ فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو بري لیکونو/ شهادتنامو وېشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې سپینې شهادتنامې ندي ویشل شوي ځکه چې د فارغانو د شمېر له مخې د شهادتنامو ریاست لخوا د سپینې شهادتنامې رالیږل کېږي او بیا وروستته په سیستم کې اپلوډ کېږي او ویشل کېږي خو تر اوسه پورې یادې شهادتنامې نه دي رالیږل شوي.

**۳,۸ فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولگیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې ٦٦ بابه دولتي ښوونځیو او ۴ بابه خصوصي ښوونځیو د دولسم ټولگیو فارغانو د نتایجو جدولونه د پوهنې وزارت له لورې تطبیق او تائید شوي دي. همدارنگه په لغمان ولایت کې ۴۲۱ تنو نورمال عادي سامع زده کوونکو د اووم ټولگي څخه تر دولسم ټولگي پورې د پوهنې ریاست په تالار کې ازموینه اخیستل شوي نتایجو جوړولو لړۍ تر کار لاندې ده.

**۳,۹ فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د څارنې، اروزنې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونې په اړه د تضمین کېفیت معینیت دڅارنې، ارزونې او راپور ورکولو ریاست څخه دوه تنه ترینران د راپور جوړولو او انلاین سیستم د وصلولو په موخه د لغمان ولایت پوهنې ریاست ته راغلي وو، چې د یاد ترینرانو لخوا د پوهنې ریاست په مقام کې ۴۲ تنو آمرینو او مدیرانو ته د راپور جوړولو او آنلاین سیستم په موخه ۴ ورځنی ورکشاپ ورکړل شو، ددې ورکشاپ په اخیستو سره د یادو گډونوالو ظرفیت لوړ شو مگر مالي امکانات یې نه درلودل.

**۳,۱۰ فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛**

د ۱۴۰۳ کال څلورمې تر پایه پورې د څارنې، ارزونې او راپور ورکونې عمومي مدیریت او د پوهنې وزارت څخه راغلو هئیتانو لخوا مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه په ربعواره توگه څارنه تر سره شوې.

**۳,۱۱ فعالیت: د لغمان ولایت پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت پوهنې ریاست اړوند د کېفیت تضمین آمریت د څارنې غړو له لورې د پوهنې وزارت درې همکارو موسساتو( ابرار خیریه موسسه، ښوونه لپاره د افغانستان او د ځوانانو د فکري پراختیا تعلیمي او ټولنیزه موسسه) له پروژو څخه څارنه تر سره شوې ده.

**۳,۱۲ فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د راپور ورکولو سیستم د پوهنې وزارت له لوري فعال شوی او عملا استفاده ترې اخیستل کېږي؛ چې پر مټ یې میاشتني او ربعوار راپورونه د ولسوالیو او برنامو څخه راټولیږي او د تحلیل او توحید وروسته یې اړوند مرجع ته لیږل کیږي.

**۳,۱۳ فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د راپور ورکولو آنلاین سیستم د پوهنې وزارت له لورې فعال شوی دتحلیل او توحید غړي پکې عملا کار کوي او د راپور ورکولو په برخه کې ډېره اسانتیا رامنځته کړې ده.

**۳,۱۴ فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د لغمان ولایت په کچه د پلانونو د پرمختگ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت د راپور ورکولو آمریت د راپور ورکولو ربعوار فارمټ کې د لغمان ولایت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو د هرې ربعې معلومات راټول او په یاد فارمټ کې ځای په ځای او پوهنې وزارت ته استول شوي دي.

**۳,۱۵ فعالیت: په لغمان ولایت کې د شپږم ټولګي د زده کوونکو د ریاضي پوهې د کچې د پرمختګ ارزونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په لغمان ولایت کې د شپږم ټولګي د زده کوونکو د ریاضي پوهې د کچې د پرمختګ ارزونې په برخه کې د تضمین کېفیت معینیت څخه ٦ تنه کارپوهان د لغمان ولایت د پوهنې ریاست ته راغلي وو چې یاده ارزونه په مرکز، علینګار، علیشنګ او قرغیو پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې ترسره شوې ده، د هریو کارپوه لخوا ۱۲۰ تنو زده کوونکو د ریاضي د پوهې ارزونه کړې چې ټولټال ۷۲۰ تنه زده کونکي کېږي.

**۳,۱٦ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لغمان ولایت په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق په اړه د پوهنې ورازت لخوا نه دی ترسره شوی او همدارنګه د څارنې او ارزونې عمومي مدیریت مسلکي غړو له لوري د قرغیو پوهنې آمریت په شمول او اړوند ۸ بابو ښوونځیو، مرکز پوهنې آمریت اړوند ۷ بابه ښوونځیو او ۷ خصوصي ښوونځیو، علیشنګ پوهنې آمریت اړوند ۸ بابه ښوونځیو او دوه بابه دیني مدرسو او دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۹ بابه ښوونځیو او دوه بابه دیني مدرسو څخه د تقنیني اسنادونو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق څخه په نمونه یې شکل څارنه ترسره شوې ده.

**۳,۱۷ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت په کچه د تقنیني سندونو او پالیسو په برخه کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونې لپاره د کېفیت تضمین معینیت څخه ۴ تنه کارپوهان لغمان پوهنې ریاست ته راغلي وو چې د کېفیت تضمین آمر، نتایجو او شهادتنامو عمومي مدیریت، د معلوماتي او احصایې عمومي مدیریت او د څارنې او ارزونې عمومي مدیریت چې ټولټال۲۱ تنه کېږي د پوهنې ریاست په تالارکې ۲ / ۱۲ / ۱۴۴۵ څخه تر ٦ / ۱۲ /۱۴۴۵ نیټې پورې ۴ ورځینې ورکشاپ ورکړل شو.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴,۱ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې مالي مدیریت کې ۴ تنه کارکوونکي نوي مقرر شوي د ولایت مقام په مالي لګښت د اداري اصولو او مالي چارو په برخه کې ۲ ورځینی ورکشاپ ورکړل شوی او همدارنګه ۵ تنه کارکوونکي د ظرفیت لوړولو لپاره د پوهنې جلیله وزارت څخه د راغلو استادانو لخوا د پوهنې ریاست په هسته کې ۲ ورځنی ورکشاپ ورکړل شوی چې مالي امکانات یې نه درلودل او پدې ورکشاپ اخیستو سره ظرفیت لوړونه کې تغیرات راغلل.

**۴,۲ فعالیت: د لغمان ولایت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژی طرحې جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لغمان ولایت د پوهنې ریاست شپږو اداري واحدونو لپاره د ظرفیت لوړول نیازمندي پلان ترتیب او پوهنې جلیله وزارت ته لیږل شویدی.

**۴,۳ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او برېښنایي کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د سوانحو مدیریت له لورې د کارکوونکو سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح او تطبیق تر سره شوی او بریښنایي سیستم د نه موجودیت له امله بریښنایې شوي ندي.

**۴,۴ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لغمان ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونه د اسلامي امارت د مشرتابه له لورې د ځمکو اشغال او ځمکو ته دملکیت سندونو جوړول د (۶۷۸) ګڼې ۶ / ۲ / ۱۴۴۵ نیټې د حکم په اساس د بند دي. د نورو معلوماتو لپاره دې ۱ نمبر ملپاتې ته مراجعه وشي.

**۴,۵ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لغمان ولایت په کچه ۱۲ بابه ښوونځي د عادي بودیجه کې سجل شوي د مرکز پوهنې آمریت اړوند مهترلام بابا، روښان لیسه، تحویل خانه، پوهنې مرکزي هسته، د شمتیو دوه ودانۍ، قصبه، مرکزي مدرسه د علینګار پوهنې آمریت اړوند ساو لیسه، او مدرسه دیني علنیګار، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند دولت شاه هلکانو لیسه او د قرغیو پوهنې آمریت اړوند دمندراوړ هلکانو لیسه، د قرغیو پوهنې آمریت، قرغیو نجونو لیسه او شاه اباد هلکانو لیسې د ترمیماتو پروژې سجل شوي دي .

**۴,۶ فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي برخه کې کومې کړنې نه دي ترسره شوي ځکه چې د املاکو په دفترونو کې د معلوماتو سیستم فایلبندونه موجود نه دي.

**۴,۷ فعالیت: د هغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت ته دي انتقال شوي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې لغمان ولایت کې یاد فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې په لغمان ولایت کې داسې ځمکه نشته چې په هغې دې د مدرسې او یا ښوونځي ودانۍ جوړه وي او پوهنې وزارت ته دې نه وي انتقال شوې.

**۴,۸ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د غصب شویو، نیول شویو او دعوایي ځمکو بررسي او د قضیو راټولول او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لغمان ولایت په کچه دښوونځیو ساتنې او څارنې عمومي مدیریت لخوا د ۱۹ غصب شویو، نیول شویو او دعوایي ځمکو بررسي تر کار لاندې دي، د ۹ قضیې تر کتنې لاندې دي او همدارنګه د منازعاتو د حل ثبت معلوماتي سیستم تراوسه موجود نه دی.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵,۱ فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د یاد فعالیت د ترسره کېدو لپاره کوم هیئت د پوهنې وزارت او یا هم د کومې اداري څخه نه دی راغلی نو بناءً یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۵,۲ فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش په اړه د پوهنې وزارت له لورې ۴۶۴عرفان مجله، ۳۲۷بخوان مجله او ۶۱۰ ګڼې اوونیزې رالیږل شوي دي چې د پوهنې ریاست اړوند شعبات او ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته خپله سهمیه ورکړل شوې ده او کلیزې او بروشورونه د پوهنې وزارت له لورې ندي رالیږل شوي.

**۵,۳ فعالیت: د پوهنې د یو کلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې یو کلنې کړنې په هکله کوم کتاب د پوهنې وزارت لخوا نه دی راغلی.

**۵,۴ فعالیت: د لغمان ولایت ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت د تخنیکي غړو لخوا ترسره کېږي چې تر اوسه پورې څوک نه دي راغلي.

**۵,۵ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۵۵۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې دسواد زده کړې کتابونه پوهنې وزارت چاپ کوي او بیا یې پوهنې ریاست ته راستوي چې تر اوسه پورې یاد کتابونه نه دي رارسیدلي.

**۵,۶ فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۲۰۲۱ ټوکه درسي کتابونو ویش؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتابونه پوهنې وزارت چاپ او بیا یې د پوهنې ریاست ته راستوي چې تر اوسه پورې یاد کتابونه نه دي رارسیدلي.

**۵,۷ فعالیت: په لغمان ولایت کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پراوونو بشپړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې یاد فعالیت په اړه (۱۷) ۲۰ / ۲ / ۱۴۴۶ ګڼه لیک پوهنې وزارت څخه هدایت غوښتل شوی تر اوسه پورې د مکتوب ځواب ندی راغلی. د نورو معلوماتو لپاره دې ۲ نمبر ملپاڼې ته مراجعه وشي.

**۵,۸ فعالیت: د پلټنې په برخه کې د لغمان ولایتي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پلټنې په برخه کې د لغمان ولایتي کارونکو لپاره د روزنیزو ورکشاپ د بودجې نشتون له امله نه دی دایر شوی.

**۵,۹ فعالیت: د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول.**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې دعوت او ارشاد کار کوونکو لغمان پوهنې ریاست ته یو سفر کړی وو چې د یاد ریاست کارکوونکو ته یې توصیې وکړې.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**ټولیزه موخه:** په هېواد کې د ماشومانو، ځوانانو او لویانو، نجونو او ښځو لپاره کېفیت لرونکي او خوندي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

### ۱: ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت د بودیجې نشتون له امله ندی ترسره شوی.

**۱,۲ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت په کچه تړل شوي ښوونځي نشته، ترڅو د هغوی بیا پرانستل او برخلیک وټاکل شي.

**۱,۳ فعالیت: د فزیک، کېمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لیبونو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې مرکز، علینګار، قرغه یي او علیشنګ پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو سروې ترسره شوې، اړتیاوې یې توحید، پشنهاد او د تجهیز کولو په اړه د بودیجې د کمښت له امله کومې کړنې نه دي ترسره شوي. ۸ نمبر پاڼې ته دې مراجع وشي.

**۱,۴ فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د لغمان ولایت په کچه د ۲۵۳۰۷ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په دولتي ښوونځیو کې د لغمان ولایت په کچه د ګرمو او سړو سیمو ښوونځیو کې ۱۲۰۷۶ تنه هلکان ۸۶۹۹ تنه نجونې چې ټولټال ۲۰۷۷۵ تنه جدیدالشمولان زده کوونکي کېږي جذب شوي دي.




د نورو معلوماتو لپاره دې ۳ نمبر ملیاتې ته دې مراجعه وشي.

**۱,۵ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د ۴ بابه نویو ښوونځیو تأسیس؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د عمومي زده کړو آمریت له لورې په مرکز او علینګار پوهنې آمریتونو اړوند ۲ بابه ښوونځي د برم او علینګار په نوم تاسیس شوي دي.

**۱,۶ فعالیت: په لغمان ولایت کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د لومړنیو ښوونځیو منځنیو ښوونځیو ته او منځني ښوونځي لیسو ته لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت په برخه کې کړنې ندي ترسره شوي ځکه د پوهنې ریاست اړوندو پوهنې آمریتونو له لورې نه کوم وړاندیز شوی او نه هم معیار یې پوره کړی.

**۱,۷ فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون اولغمان ولایت کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د ښوونځیو جلا کول، دنوم بدلول او د جنسیت بدلولو په برخه کې د ښوونې او روزنې معینیت، د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست او د تعلیمي نهادونو دچارو آمریت د (۸۵۰) ۲۷ / ۱۰ / ۱۴۴۵ ګڼه لیک په اساس یادې چارې ځنډېدلي دي. د نورو معلوماتو لپاره دې ۴ نمبر ملیاتې ته مراجعه وشي.

**۱,۸ فعالیت: د لغمان ولایتي او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت د بودیجې نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

**۱,۹ فعالیت: د ځانګړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لپاره د ښوونیزو مرکزونو رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت د بودیجې نشتون او د موسساتو نه همکارۍ له امله ندی تر سره شوی.

**۱,۱۰ فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې ۹۵ تنه زده کوونکي چې له بهر څخه راستانه شوي وو اسناد یې د طی مراحل کولو څخه وروسته اړوند مراجعو ته لیږل شوي دي ۴۲۱ تنو مجاهدینو دولسم ټولګي او ۹۰۲ تنه مجاهدینو یوولسم ټولګي د تثبیت ټولګي لپاره د الحاج دنیاګل جامع په مسجد کې ازموینه اخیستل شوې او نتایج یې ترتیب او د جدولونه یې منظورۍ په موخه د پوهنې جلیله وزارت لیږل شوی؛ چې تر اوسه پورې منظوري د پوهنې جلیله وزارت څخه نه ده راغلې.

**۱,۱۱ فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکارۍ د هېواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه ایزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې کومې مرستندویه موسسې سیمه ایزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړولو کې همکاري نه ده کړې.

**۱,۱۲ فعالیت: د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د څارندوي مدیریت لخوا د مرکز پوهنې آمریت اړوند ۵ بابه ښوونځیو (روښان لیسه، حیدرخاینو هلکانو لیسه، مهترلمک هلکانو لیسه، علیشنگ هلکانو لیسه او ډیوې هلکانو لیسې) کې ترافیکي ټیمونه او ۴ بابه ښوونځیو(مستورې لیسه، عصمت الله محبت منځنی ښوونځی، علي خیلو هلکانو لیسه او داکترعبدالله لیسې) کې د اور وژنې ټیمونه جوړ شوي دي.

**۱,۱۳ فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروگرامونو تنظیمول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د مساجدو ملا امامانو او قریو ملکانو له لورې ۴۸ غونډې تر سره شوي دي.

**۱,۱۴ فعالیت: د سیمه اییزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو په مرکزونو او حرفوي او حیاتي زده کړو په ښوونځیو کې د اړمنو او زده کړې څخه بې برخې خلکو له پاره د سواد، حرفوي، شغلي، سواد حیاتي او ژوند مهارتونو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د سواد حیاتي ښوونځیو کې ۴۱۷ تنه زده کوونکي دي او همدارنگه حرفوي، شغلي او ژوند مهارتونو د زمینې برابرول بودیجې کمښت له امله ندی ترسره شوی او نه موسساتو پدې برخه کې همغږې کړی دی.

**۱,۱۵ فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې راستنیدونکو او داخلي بی ځایه شویو لپاره د بودیجې نشتون له امله یاد فعالیت ندی ترسره شوی.

**۱,۱۶ فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د سواد زده کړې عمومي مدیریت لخوا مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۲۰۲ بابه کورسونو کې ۳۵۱۶ تنه نالوستي کسان د سواد زده کړې لپاره په کورسونو کې جذب شوي دي.

**۱,۱۷ فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروگرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ملاامامانو او کوچیانو د پروگرامونو له لارې دسواد زده کړې په کورسونو کې نالوستي کسان د بودیجې نشتون له امله نه دي جذب شوي.

**۱,۱۸ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت پوهنې ریاست د سواد زده کړې آمریت له لورې په مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۲۰۲ بابه د سواد زده کړې کورسونه جوړ شوي دي.

**۱,۱۹ فعالیت: د خصوصي ښوونیزو موسسو او کورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پلان عمومي مدیریت لخوا د خصوصي ښوونیزو موسسو او کورسونو ملاتړ او اعتبار ورکولو په برخه کې د یو باب خصوصي فهیم افغان ستار ته ملاتړ او اعتبار ورکړل شوی دی، یو باب لمپاکا نمبر ۲ خصوصي ښوونځي ته د جواز فعالیت تمدید اوپلورل شوی دی، یو باب مهترلام خصوصي ښوونځي د فعالیت جواز تمدید او منځني دورې څخه لیسې دورې ته ارتقاء کړې ده، څلور خصوصي ښوونځیو( عرفات، اتحاد القریش، ژوند رڼا او پایښت ) جوازونه تمدید او ابتدایې دورې څخه منځني دورې ته ارتقاء کړې ده، درې بابه خصوصي ښوونځي ( برهان نمبر۲ ، اتحادالقریشی او حضرت صهیب لیسه) د فعالیت جوازونه تمدید او دوه بابه ښوونځي برم علینگار نوی تاسیس شوي دي. همدارنگه یو باب حضرت صهیب ښوونیز مرکز نوی کورس تاسیس شوی او یوباب خصوصي نړیوال مسلم کورس د فعالیت جواز تمدید شوی دی.

**۱,۲۰ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو زده کوونکو درې کلنو نمرو ته اعتبار ورکول ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې خصوصي ښوونځیو زده کوونکو د درې کلنو نمرو غوښتنه نه ده کړې.

**۱,۲۱ فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کوونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوري وي د زده کړو د زمینې برابرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په خصوصي ښوونځیو کې د هغو زده کوونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوري وي د زده کړې د زمینې برابرولو په موخه د شهداو او معلولینو د ورثې د حقوقو او امتیازاتو قانون له مخې ۲۲۵ تنه زده کوونکي خصوصي ښوونځیو ته ورپيژندل شوي چې په پایله کې یاد زده کوونکي د زده کړو څخه برخمن شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بنې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست اړوند د ولسوالیو پوهنې آمریتونو له لورې د اسلامي زده کړو رسمي بنسټونو تاسیس، دنوم او بنې بدلون، ارتقاء، او تمدید لپاره کوم وړاندیز ندی شوی.

**۲,۲ فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بنې د بدلون څخه کتنه او کنټرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې مرکز پوهنې آمریت اړوند ٦٦ باب مدرسو، قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۳۰ بابه مدرسو، علینګار پوهنې آمریت اړوند ۲۵ بابه مدرسو، علیشنګ پوهنې آمریت اړوند ۲۵ بابه مدرسو، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۱۵ بابه مدرسو او بادپښ پوهنې آمریت اړوند ۱۰ بابه خصوصي مدرسو څخه چې ټولټال ۱۷۱ بابه مدرسي کېږي، کنټرول او څارنه ترسره شوې ده همدارنګه د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او دخصوصي مرکزونو د جواز دبنې بدلون نه دی ترسره شوی ځکه چې اړوندو پوهنې آمریتونو دیاد فعالیت په اړه کوم وړاندیز هم ندی کړی.

**۲,۳ فعالیت: د ۴۵۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د اسلامي زده کړو معینیت لخوا د لغمان ولایت لپاره دوه تنه حافظان ترینران روزل شوي وو، چې د همدې ترینرانو لخوا د مرکز او ولسوالیو اړوند ۸۱۵ تنو حافظانو ثبت نام کړی وه، ۴۶۰ تنو حافظانو څخه د جوزا د میاشتې په ۱۹ نیټه او همدې پروسې ۲۷ ورځې دوام وکړ، ازموینه تری واخیستل شوه چې په پایله کې ۳٦۳ تنه حافظان په کامل الحفظ کې کامیاب ۹۷ تنه حافظان پکې ناکام شوي نتایج یې د اسلامي زده کړو آمریت لخوا اسلامي زده کړو معینیت محترم مقام ته لیږل شوي دي، مالي لګښت یې د اسلامي زده کړو معینیت لخوا ورکړل شوی دی.

د اسلامي زده کړو آمریت لخوا د ۱۲۱ تنو علماء کرام د ۱۲ لسم ټولګي تثبیت سویه ټولګي لپاره او۳۲ تنوعلماء کرام د ۱۴ ټولګي لپاره ۷۱ تنه دعالیه دورې لپاره علماء کرامو د تثبیت سویې دکانکور فورمې ډکې کړي دي ازموینه د حوت میاشتې په ۸ نیټه دلغمان ولایت پوهنتون کې د اسلامي زده کړو محترم معینیت او کانکور ملي اداري څخه د راغلو هئیتانو په حضور ازموینه وا خیستل شوه او نتایج یې تر اوسه پورې ندي راغلي.

**۲,۴ فعالیت: د لغمان ولایت د مدرسینو د ظرفیت لوړولو په موخه د ورکشاپونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې دمرکزي هستې مدرسو مسلکي چارو د پراختیا علمي غړي لخوا د ظرفیت لوړونې په خاطر د مرکز پوهنې آمریت د روښان عالي لیسې په تالار کې د خصوصي مدرسو ۱۱ تنو آمرینو ۴۴ استادانو ۵ تنو مدیرانو چې ټولټال ٦۰ تنه کېږي؛ ۱ ورځنی ورکشاپ ورکړل شو، مالي لګښت یې د اسلامي زده کړو آمر په غاړه وو، ددې ورکشاپ په اخیستو سره ظرفیت ښه شو.

همدارنګه د مرکزي هستې د مدرسو مسلکي چارو د پراختیا علمي غړو لخوا د ظرفیت لوړونې په خاطر، دقرغیو په دیني مدرسه کې د خصوصي مدرسو ۵ تنو آمرینو، ۳۳ تنو استادانو او ۲ تنو مدیرانو چې ټولټال ۴۰ تنه کېږي؛ ۱ ورځنی ورکشاپ دایر او مالي لګښت یې د اسلامي زده کړو آمر اخیستې وو، ددې ورکشاپ په اخیستو سره ظرفیت یې لوړ شو.

**۲,۵ فعالیت: د میتودیکي اړتیاؤ د معلوملو په موخه د اسلامي زده کړو په بنسټونو کې د مدرسینو او استادانو ارزونه؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې ترسره کېږي.

**۲,۶ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د مرکز پوهنې آمریت اړوند یوباب مرکزي دارالعلوم او د علینګار پوهنې آمریت اړوند د مخزن العلوم عالي دارالعلوم چې مجموعه ۲ بابه دارالعلومونو کېږي صرف قرطاسیه ورکړل شوې ده.

**۲,۷ فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې وزارت له لورې ۲۵۰ تنو طالب العلمانو ته دلیلې د استوګنې سهمیه ۵۰ افغانۍ د یوې ورځې په اساس ورکړل شوې، په هره ولسوالۍ کې ۵۰ تنه سهمیه ده. همدرانګه په مرکزي دارالعلوم کې ۵۰ تنو ته ګرمه اعایشه ده چې پوهنې وزارت له لوري مالي لګښت ورکول کېږي.

**۲,۸ فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت د کمیټې لخوا په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې دعالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د لغمان ولایت مرکزي دارالعلوم لپاره ٦٦جدید الشمولانو جذب کړي او د لومړۍ دورې ۵۸ تنه هلکان او ۲۰ تنه نجونې چې ټول ۷۸ تنه جدیدالشمولان کیږي؛ جذب شوي دي.

**۲,۹ فعالیت: د ۲۱۰ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت لخواد لغمان ولایت پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۸۱ بابه خصوصي دیني مدرسې چې ٦۴ بابه د هلکانو او ۱۷ بابه یې د ښځینه وو دي، نوي تأسیس شوي دي. او همدارنګه دهلکانو ۵ بابه دارالحفاظونه هم نوي تأسیس شوي چې ارقام یی په لاندې جدول کې د ولسوالیو په کچه په تفصیل سره ښودل شوی.

| شماره | ولسوالي | نوي تأسیس شوي دیني مدرسې | | | نوي تأسیس شوي درالحفاظونه | | | کتنې |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| | | نارینه | ښځینه | جمله | نارینه | ښځینه | جمله | |
| ۱ | لغمان مرکز | ۸ | ۵ | ۱۳ | ۲ | ۰ | ۲ | |
| ۲ | علینګار | ۲۴ | ۵ | ۲۹ | ۱ | ۰ | ۱ | |
| ۳ | قرغه یي | ۵ | ۳ | ۸ | ۱ | ۰ | ۱ | |
| ۴ | علیشنګ | ۲۱ | ۳ | ۲۴ | ۱ | ۰ | ۱ | |
| ۵ | دولت شاه | ۴ | ۱ | ۵ | ۰ | ۰ | ۰ | |
| ٦ | بادپښ | ۲ | ۰ | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ | |
| ټولټال | | ٦۴ | ۱۷ | ۸۱ | ۵ | ۰ | ۵ | |

**۲,۱۰ فعالیت: په لغمان ولایت کې د ۱٦ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال دځلورمې ربعې ترپایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۴ بابه کلیوالي مدرسې جوړې شوي چې ۱۰ بستونه ورکړل شوي دي او استادان پکې مقرر شوي دي.

او دارالحفاظونه د نه وړاندیز له امله نه دي جوړ شوي.

**۲,۱۱ فعالیت: په لغمان ولایت کې د ۴۵۷ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول؛**

د ۱۴۰۳ کال دځلورمې ربعې ترپایه پورې د لغمان پوهنې ریاست له لورې د ۱۹ بابه دولتي مدرسو لپاره تجهیزات ورکول کیږي او د خصوصي لپاره صرف معاشونه ورکول کېږي او نورو تجهیزاتو په اړه کوم ځانګړې بودیجه په نظر کې نه ده نیول شوې.

## ۳. د کېفیت تضمین

لغمان ولایت په ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان په دې برخه کې کوم فعالیتونه نه لري.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴,۱ فعالیت: ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته د تشکېل او کوډونو لیږدول؛**
د ۱۴۰۳ کال دځلورمې ربعې ترپایه پورې د لغمان ولایت پوهنې ریاست اړوند آمریتونو او ښوونځیو ته د ۱۴۰۳ کال تائید شوي کوډونه، تشکېل یې رسما ښوونځیو ته لیږل شوي دي.

**۴,۲ فعالیت: د ښوونځیو د تشکېل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او لیسې ته او نورو ښوونیزو اداري مرکزونو ته لوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال دځلورمې ربعې ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې د ښوونځیو مدیرانو او یا مسؤلینو مراجعه په دې برخه کې نه ده کړې.

**۴,۳ فعالیت: د طرحو، ساختارونو او تشکېلاتي احصایو نهایي کول او د منظورۍ او تطبیق په خاطر یې د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل؛**
د ۱۴۰۳ کال دځلورمې ربعې ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لورې ترسره کېږي.

**۴,۴ فعالیت: د بشري سرچینو د پروسو ساده کول او سمون او د لغمان ولایتي ادارو د دندو د لایحو بیا کتنه او معیاري کول؛**
د ۱۴۰۳ کال دځلورمې ربعې ترپایه پورې د بشري سرچینو د پروسو ساده کول، د موجوده لایحو په اړه مربوطه کارکوونکو ته واضح کول د کونګو لایحو مادو په اړه د پوهنې وزارت اړوند د بشري سرچینو او پراختیا لوی ریاست له کارپوهانو سره موضوع شریکه او معلومات غوښتل شوي دي، خو تر اوسه پورې د کومې کړنې نه دي ترسره شوي.

**۴,۵ فعالیت: د برېښنایي سیستم د تطبیق، د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو (جنسونو، سامانونو، وسایطو اونورو... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د یو تخینکي ټیم ټاکل او لېږل؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر سره کېږي.

**۴,۶ فعالیت: په لغمان ولایت کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بودیجې څخه د بنسټیزو نیمه کاره پروژو (ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو) بشپړول؛**
د ۱۴۰۳ کال دځلورمې ربعې ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې ۱۴۰۲ کال بودیجه نه وه پاتې شوې چې نیمه کاره پروژې پرې بشپړې شي البته ۹ نیم کاره پروژې شته دي.

**۴,۷ فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول؛**
د ۱۴۰۳ کال دځلورمې ربعې ترپایه پورې یاد فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې د دولت بودیجه د لومړی ربعې په اخیر کې منظور شوه خو د کمښت له امله کوم پرمختګ نه دی شوی او همکارو موسساتو تر اوسه پورې همکاري نه ده کړې.

**۴,۸ فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ولایتونو ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د موسساتو په برخه کې ستاسو غږ موسسه ۵بابه ښوونځي چې عبارت دي له (سلینګار لیسه، منډال لیسه، انجنیر شیرمحمد لیسه، فرمانخیل لیسه او شهید عبدالستار لیسه) او د عادي بودیجې په برخه کې ۱۲ بابه ښوونځي او مدرسې( روښان لیسه ،پیرابابا، مهترلمک، ساو، چطلا، اسلام اباد، علیشنګ دیني مدرسه، قلعه نجیل، دقرغیو نجونو لیسه، دقرغیو پوهنې آمریت، علینګار دیني مدرسه او عثمان بن عفان مدرسه) ترمیمات یې تر کار لاندې دي.

**۴,۹ فعالیت: د لغمان ولایت څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول په مرکز کې ۲ بابه، علیشنګ کې ۳ بابه، قرغیو کې ۲ بابه، علینګار کې ۲ بابه او په دولت شاه ولسوالی کې د یوباب ښوونځي د ساختماني موادو نرخونه راټول او اړوند ادارو ته د ښوونځیو د ساتنې او څارنې عمومي مدیریت لخوا معلومات ورکړل شوي دي او همدارنګه په درې کټګوریو یعنې مرکز، نژدې ولسوالی، لرې ولسوالی چې نژدې قرغه یې ولسوالی او لرې ولسوالې دولت شاه راځي نرخونو راټول شوي دي.

**۴,۱۰ فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول؛**

د ۱۴۰۳ کال ترپایه پورې د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول په برخه کې ۱ جریب یې سلیمان کوچي ښوونځي او ۱۵ بسوې ځمکه د خالق اباد مدرسې لپاره ورکړل شوې ده.

**۴,۱۱ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو ۱۹ دوسیې په عدلي او قضایي د غصب مخنیوي کمیسیون کې تر کار لاندې دي، چې وخت په وخت تعقیبیږي.

دلغمان ولایت مرکز پوهنې آمریت اړوند د بدیع الاباد هلکانو لیسې ساحه د غاصبینو د ولکې لاندې وه ۹۰۰ متره مربع د غاصبینو له منګولو خلاصه او دښوونځي په واک کې ورکړل شوه.

### ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵,۱ فعالیت: د لغمان ولایت پوهنې ریاست استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د ترلاسه کېدو او ښه اجراآتو په اړه معلومات ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت پوهنې ریاست استازي ته د پوهنې ریاست څخه ټول متقاعد مکتوبونه، منفکي مکتوبونه، دندو اشغال مکتوبونه د ښوونکو او مدیرانو د ارزونې مکتوبونه، د تقرر او تبدل مکتوبونه او مختلف وړاندیزونه د معلوماتو او ټکنالوژي عمومي مدیریت له لورې د پوهنې محترم وزارت ته استول کېږي او هلته د پوهنې ریاست استازي په ښه ډول سره طی مراحل کړي دي.

## ۳ برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت

**تولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کېفیت لرونکي، انډولیز او رښو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندی کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعالیت: د لغمان ولایت په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۱۲۴تنه نارینه او ۱۱ تنه ښځینه او علیشنگ پوهنې آمریت اړوند ۲۵۲ تنه نارینه او ۱۰۸ تنه ښځینه ښوونکو د لرې پرتو سیمو د کرنلارې مطابق ازموینه اخیستل شوې خو د پوهنې وزارت له لورې گمارنه نه ده شوې نو په همدې اساس یاده څارنه هم نه ده شوې اوهمدارنگه یاده ازموینه د پوهنې ریاست دپرسونل دراجسترکولو اوثبت آمریت، د تشکېل ریاست د ادارې اوپراختیا د لوی ریاست د (۱۱۱۲) ۲ / ۲ / ۱۴۴۶ گڼه لیک په اساس معطل شوې ده. د نورو معلوماتو لپاره دې ٦ نمبر ملېاتې ته مراجعه وشي.

**۱,۲ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په لغمان ولایت کې د څارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروگرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت له لورې ترسره کېږي.

**۱,۳ فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت د پوهنې وزارت لخوا تر سره کېږي.

**۱,۴ فعالیت: د لغمان ولایت کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراگانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د مرکز پوهنې آمریت اړوند ۳۰ بابه، دعلینگار پوهنې آمریت اړوند ۲۸ بابه، دعلیشنگ پوهنې آمریت اړوند ۳۰ بابه، قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۲۵ بابه، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۱۷ بابه او بادپښ پوهنې آمریت اړوند ۷ بابه ښوونځیو شوراگانو چې ټولټال ۱۴۵ بابه ښوونځیو شوراگانې کېږي؛ د شوراگانو څخه حمایوي څارنه ترسره شوې ده.

**۱,۵ فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ایز او چټکو زده کړو ټولگیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ښوونې او روزنې آمریت له لورې په مرکز کې ۲۰۰ بابه، علینگار پوهنې آمریت اړوند۱۸۹ بابه، علیشنگ پوهنې آمریت اړوند۱۸۰بابه، قرغیو پوهنې آمریت اړوند۱۹۰ بابه، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند۱۳۰بابه او بادپښ پوهنې آمریت اړوند۸۰ بابه ښوونځیو چې ټولټال ۹٦۹ بابه عمومي زده کړو ښونځي کېږي، څارنه تر سره شوې ده.

همدارنگه د ښار پوهنې آمریت اړوند ۹۰ بابه، علینگار پوهنې آمریت اړوند ۵۵ بابه، د قرغیو پوهنې آمریت اړوند ٦۰ بابه او علیشنگ پوهنې آمریت اړوند ۳۰ بابه، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۳۰ بابه او دبادپښ پوهنې آمریت اړوند ۲۰ بابه چې ټولټال ۲۸۵ بابه کېږي سیمه ایزو ټولگیو څخه څارنه تر سره شوې ده.

د چټکو زده کړو په برخه کې د ښار پوهنې آمریت اړوند ۱۱بابه، علینگار پوهنې آمریت اړوند ۸ بابه د قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۱۰ بابه، دعلیشنگ پوهنې آمریت اړوند ۹ بابه، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۸ بابه او بادپښ پوهنې آمریت اړوند ۵ بابه؛ چې ټولټال ۵۱ کېږي چټکو زده کړو ټولگیو څخه څارنه ترسره شوې ده.

همدارنگه دځلورمې ربعې ترپایه پورې په مرکز کې ۵۹ بابه خصوصي ښوونځیو څخه د دفعاتو لمځې څارنه ترسره شوې ده.

**۱,٦ فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د ۱۴۴۰ تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاگه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ښوونکو مسلکي پراختیا غړیو لخوا د ښار پوهنې آمریت اړوند ۹۰۰ تنه، د علینگار پوهنې آمریت اړوند ۸۰۰ تنه، علیشنگ پوهنې آمریت اړوند ۷۰۰ تنه، د قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۷۵۰ تنه، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۴۰۰ تنه او بادپښ پوهنې آمریت اړوند ۲۵۰ تنو ښوونکي چې ټولټال ۳۸۰۰ تنه ښوونکي کېږي له تدریسي بهیر څخه څارنه ترسره شوې ده.

د ښار پوهنې آمریت اړوند ۸۰ تنه، د علینگار پوهنې آمریت اړوند ۵۰ تنه، د علیشنگ پوهنې آمریت اړوند ۷۰ تنه، قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۶۰تنه، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۴۲ او بادپښ پوهنې آمریت اړوند ۳۰ تنو د ښوونځیو سرښوونکو چې ټولټال ۳۳۲ تنه سرښوونکي کېږي له تدریسي بهیر څخه څارنه ترسره شوې ده او همدارنگه په مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۱۴۰ مدیرانو د ښوونکو مسلکي پراختیا غړیو لخوا څارنه ترسره شوې ده.

او همدارنگه دښاری پوهنې آمریت اړوند ٦٥ تنه ، علینگار پوهنې آمریت اړوند ۵۵ تنه ، دعلیشنگ پوهنې آمریت اړوند ٦٠ تنه ، قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۵۰ تنه ، دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۴۲ تنه او دبادپښ پوهنې آمریت اړوند ۳۰ تنو مدیرانو چی ټولټال ۳۰۲ تنه مدیران کېږی له کارونو څخه یی څارنه ترسره شوی ده.

د سواد زده کړې ښوونکو په برخه کې مرکز پوهنې آمریت اړوند ۳۰ تنه، د علینگار پوهنې آمریت اړوند ۲۵ تنه، علیشنگ پوهنې آمریت اړوند ۱۵ تنه، د قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۲۰ تنه، د دولت شاه پوهنې آمریت اړوند ۱۷ تنه او بادپښ پوهنې آمریت اړوند ۳ تنه د سواد زده کړو ښوونکو چې ټولټال ۱۱۰ تنه ښوونکي کېږي له تدریسي بهیر څخه یې د ښوونکو مسلکي پراختیا غړیو لخوا څارنه ترسره شوې ده.

**۱,۷ فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ترسره شوو علمي راپورونو تر لاسه کول، توحید او تحلیل څخه وروسته د ښوونکو د مسلکي پراختیا لوی ریاست ته د ۲ علمي راپورونه ورکړل شوي دي.

**۱,۸ فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د ګډې نمونوي څارنې ترسره کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی تر سره شوی ځکه چې یاد فعالیت د پوهنې وزارت له لورې تر سره کېږي.

**۱,۹ فعالیت: د ولایتي ریاستونو له لارې په لغمان ولایت کې د نجونو د زده کړې پر وړاندې د ستونزو او ننګونو په ډاګه کول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې له شپږم ټولګي څخه پورته نجونو ټولګي د امیرالمؤمنین حفظه الله شفاهي فرمان په اساس ځنډېدلي دي، خو په ټیټو ټولګیو کې د نجونو د زده کړې په برخه کې کومه ستونزه او ننګونه نده رامنځته شوې.

**۱,۱۰ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو برابرول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یاد فعالیت نه دی ترسره شوی ځکه چې یاد فعالیت تر اوسه پورې کومو زده کوونکو د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو غوښتنه نده کړی.

**۱,۱۱ فعالیت: د سیمه اییزو او چټکو زده کړو د هغو زده کوونکو د احصایې راټول چې د ۱۴۰۳ کال په پای کې دولتي ښوونځیو ته لېږدول کېږي؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د سیمه ایزو او چټکو زده کړو د زده کوونکو احصائیه دولتي ښوونځیو ته نده لیږل شوې ځکه چې فارغان یې ندي ورکړي.

**۱,۱۲ فعالیت: په بیړنی حالت کې د زده کوونکو احصایې راټولول او توحیدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت د پوهنې ریاست په کچه بیړنی حالت نه دی رامنځته شوی، نو په همدې اساس یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۱,۱۳ فعالیت: د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مرسته د لغمان ولایت په ټولو ښوونځیو کې د کولمو د چینجیو د له منځه وړلو ټولیز کمپاین ترسره کول او د الیندازول د ټابلیټونو ویشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې دروغتیا نړیوال سازمان (WHO) او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مرسته دلغمان ولایت په ۲۶۹ ښوونځیو کې د کولمو د چینجو له منځه وړلو په موخه ۲۰۰٦٦۴ تنو زده کوونکو ته البندازول ټابلیتونه ویشل شوي دي.

**۱,۱۴ فعالیت: د لغمان ولایت کې د څارندوی ټیمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې تبلیغات کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د مرکز او ولسوالیوپوهنې آمریتونو اړوند ۱۴۲ بابه ښوونځیو کې ۳۰۴۶ تنو زده کوونکو او ۱۴۲ تنو د څارندوی ښوونکو د مشترکو همکاریو په اساس د مخدره موادو په ضد کمپاین تر سره شوی اویاد فعالیتونه اوس هم دوام لري.

**۱,۱۵ فعالیت: د وړتیاوو د معلومولو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه د ورزشي سیالیو په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د وړتیاوو د معلومولو او ملي او نړیوالو سیالو ته د معرفي کولو په موخه جمناستیک د ٦۰ تنو ورزشکارانو ترمنځ د سلطان غازبابا منځني ښوونځي کې د بدني روزنې مدیریت له لورې سیالۍ ترسره شوې چې له دې جملې څخه ۳ تنه غوره ورزش کاران د ولایتي سیالیو لپاره انتخاب شوي دي، درې تنه غوره ورزشکاران مرکز ته دنمایشاتو او همدارنګه ۲ تنه زده کوونکې هند ورکشاپ په موخه مرکز ته معرفي شوي دي.

**۱,۱٦ فعالیت: د سواد د زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولایت او د ولسوالیو په کچه د سواد د کمیټو غونډو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د سواد زده کړو مدیریت لخوا د سواد زده کړو برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه په مرکز کې څلور او په ولسوالیو کې د سواد کمیټو ۲۰ غونډې دایرې شوي.

**۱,۱۷ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د امتیاز دلیږد، د ځای د بدلون او ځای ناستي او مدیر ته اعتبار ورکول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د امتیاز د لیرد، ځای د بدلون او ځای ناستي او مدیر ته اعتبار ورکولو په برخه کې ۱ باب د عرفات خصوصي ښوونځي په نوم تغیر مکان او د لمپاکا نمبر ۲ خصوصي ښوونځي خپل امتیاز پلورلې دی او همدارنګه اخلاص قانع نمبر ۲ لومړني ښوونځي او عرفات منځني ښوونځیو مسئول مدیران هم بدل شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۲,۱ فعالیت: د علماو کرامو د عالیه او خامسه درجو او د اسلامي زده کړو د ډیپلوماتیک او ثبت شوي اتشي سندونو ارزونه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د مرکز څخه د دولسم ټولګیو دبریالیو علماوو سندونه، نه دي راغلي او همدارنګه د څلوارلسم ټولګیو ته د بریالي شوو ۳۵۸ تنه ارزول شوو علماؤ کراموته د عالیه او خامسه درجو سندونه له مرکز څخه راغلي او د اسلامي زده کړو آمریت لخوا یادو علماوو کرامو ته ویشل شوي دي.

**۲,۲ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د مسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو څارنه او کنټرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د اسلامي زده کړو آمریت د مرکز او ولسوالیو پوهنې آمریتونو اړوند ۱۰ ځله د مسلکي پراختیا ښوونکو له فعالیتونو څخه څارنه اوکنټرول تر سره شوی دی.

**۲,۳ فعالیت: په دارالعلومونو کې د نویو علمي، کدري استادانو د کادرونو اجرا او د علمي رتبو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په لغمان ولایت کې اسلامي زده کړو آمریت لخوا ۲۹ تنودارالعلوم پخواني کادري استادانو ته معاش ورکول کیږي.

**۲,۴ فعالیت: له ۸۷۸ تنو ګډونوالو څخه د ازموینې اخیستل او د ۱۲ او ۱۴ ټولګیو د ارزول شویو ۸۷۸ قطعو شهادتنامو اجرا کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د ۲۱۱ تنو علماء کرامو ته د عالمیه دورې داسلامي زده کړوآمریت لخوا دکلنی مشترکې ازموینې شهادتنامې ویشل شوي دي.

**۲،۵ فعالیت: په لغمان ولایت کې د قرانکریم د سیالیو ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې مرکز پوهنې آمریت اړوند ۶۵ تنه، علینگار پوهنې آمریت اړوند ۱۳ او قرغیو پوهنې آمریت اړوند ۱۱ تنه چې ټولټال ۸۹ تنه کېږي د قرانکریم حافظانو د قرأت او تجوید په برخه کې گډون کړی وو ۶۰ تنه حافظان پکې کامیاب، ۱۹ تنه پکې ناکام شول. یاده ازموینه د سلطان غازي بابا په ښار گوټي کې د هندوانو پارک ترخنگ د عیدگاه په مسجد کې د کب(حوت) میاشتې په ۲۰ نیټه د اسلامي زده کړو آمر د مسوؤلیت او د مسلکي چارو پراختیا غړو تر نظارت لاندې واخسیتل شوه؛ چې مالي لگښت یې د لغمان محترم والي صاحب له لورې د اول درجې حافظ ته ۳۰۰۰ افغانۍ او یو ستاینلیک، دوهمه درجه حافظ ته ۲۰۰۰ افغانۍ او یو ستاینلیک او پاتې اته تنو حافظانو ته ۵۰۰ افغانۍ او یو ستاینلک ورکړل شوو چې په پایله کې نوموړې سیالۍ د حافظانو د تشویق په خاطر ترسره شوې ده.

## ۳. د کېفیت تضمین

لغمان ولایت په ۱۴۰۳ کال عملیاتي پلان په دې برخه کې کوم فعالیتونه نه لري.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴،۱ فعالیت: په لغمان ولایت کې د بشري سرچینو د راجستریشن په سیستم کې د معلوماتو نوي کول ( د خالي بستونو په ډاگه کول)؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې په لغمان ولایت کې د بشري سرچینو مدیریت له لورې د راجستریشن په سیستم کې ۳۴۸ خالي بستونه مشخص شوي دي.

**۴،۲ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د کارکوونکو د ثبت او راجستریشن د وړاندیز شویو تغیراتو ثبتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې دلغمان ولایت په کچه ۱۰۳۸ تنو کارکوونکو د ثبت او راجستریشن د وړاندیز شوي تغیرات د سرچینو او اداري مدیریت له لورې ثبت شوي دي.

**۴،۳ فعالیت: د تبدیلۍ او بست د لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه، استخدام ریاست ته د تشو بستونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې هغه کارکوونکي چې د تبدیلي او گمارنې په موخه د خالي بستونو او معلوماتو لپاره تشکېل مدیریت ته راجع کېږي ۳۱۸ تنو گمارنې او تبدیلی په اړه معلومات ورکړل شوی دی.

**۴،۴ فعالیت: د ۶۵۰ هویت/ پیژند کارتونو چاپ او ویش؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د سرچینو او اداري مدیریت له لورې د پوهنې ریاست مرکزي هستې ۱۷۰ تنه کارکوونکو ته د هویت (پیژندنې) کارتونه په پوهنې وزارت کې چاپ او رالیږلو وروسته ویشل شوي دي.

**۴،۵ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه په تشو بستونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د گمارنې بهیر څخه مدیریت؛**

په ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لغمان ولایت په کچه د تشو بستونو کې ټولټال ۹۲ کارکوونکي چې له دې جملې څخه په مرکز اړوند پوهنې آمریت کې ۲۰ تنه، په علینگار کې ۲۱ تنه، په علیشنگ کې ۲۰ تنه، په قرغیو کې ۱۹ تنه، په دولت شاه کې ۱۰ تنه او په بادپښ کې ۲ تنه کارکوونکي نوي گمارل شوي دي.

د ښوونکو په برخه کې ټولټال ۱۲۷ تنه ښوونکي چې له دې جملې څخه ۳۳ تنه په مرکز پوهنې آمریت اړوند، ۱۹ تنه علینګار پوهنې آمریت اړوند، ۳۸ تنه علشنګ پوهنې آمریت اړوند، ۱۴ تنه قرغیو پوهنې آمریت اړوند او ۲۳ تنه د دولت شاه ولسوالی پوهنې آمریت اړوند ښوونځیو کې نوي ښوونکي ګمارل شوي دي.

همدارنګه ۹۹۵ تنه استادان چې په پورته یادو ولسوالیو کې دازاد رقابت له لارې نوي ګمارل شوي دي چې د دوی د ګمارلو ښه مدیریت ترسره شوی دی.

**۴,۶ فعالیت: د لغمان ولایت د ښوونیزو چارو، اداري کارکوونکو او خدماتي کارکوونکو د کړنو د ارزونې نتایجو ( د بست او قدم لوړول ) بیاکتل او د پړاوونو بشپړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې د لغمان ولایت دښوونیزو چارو، اداري کارکوونکو او خدماتي کارکوونکو د کړنو د ارزونې په پایله کې ۱۵۳۳ تنه ښوونکو قدمونه، ۴۰ تنو کار کوونکو قدمونه او ۵ تنه ښوونکو بستونه د اداري لوی مدیریت له لوري لوړ شوي دي.

**۴,۷ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه په شرایطو برابر کارکوونکو د تقاعد اجراء کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې دلغمان ولایت په کچه په شرایطو برابر ۱۱۴ تنه کارکوونکو تقاعد د اداري لوی مدیریت لخوا اجراء شوی دی.

**۴,۸ فعالیت: د راتلونکي امنیتي پیښو د مخنیوي په موخه، له لغمان ولایت څخه میاشتني، درې میاشتني او کلني امنیتي راپورونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال تر پایه پورې یوه امنیتي پیښه د لغمان په مرکزي ساحه کې رامنځته شوي او د پوهنې وزارت محترم مقام سره شریکه شوي، د لغمان ولایت د امنیه قومندانې سره په ګډه د یو تفاهم لیک د راتلونکو امنیتي پیښو د مخنیوي لپاره لازم پلان موجود دی.

**۴,۹ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لېږد په موخه د وندې سره سم دڅټک تلونکو او بار وړونکو وسایطو په خدمتي توګه تنظیمول او توظیفول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لغمان ولایت په کچه د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لیږد په موخه د وندې سره سم د چټکو او بار وړونکو وسایط په خدمتي توګه د پوهنې وزارت له لورې نه دي توظیف شوي.

**۴,۱۰ فعالیت: د پوهنې وزارت د لغمان ولایتي ادارو لپاره د مطبوع او غیر مطبوع (چاپي او غیر چاپي ) قرطاسیې او مینځوونکو موادو ویشل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت لخوا مطبوع قرطاسیه په مکمله توګه پنځه ګونو ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته ویشل شوې ده.

**۴,۱۱ فعالیت: د پوهنې اړوند ریاست د ښوونځیو زده کوونکو لپاره ۱۰۰۰ پایې میزونو او څوکیو تولیدول او جوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یادې څوکۍ او میزونه د پوهنې وزارت له لورې نه دي رارسیدلي ځکه پوهنې وزارت یې مرکز کې جوړوي او بیا یې ولایتونو پوهنې ریاستونو ته لیږدوي.

**۴,۱۲ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د اړتیا او لارښوونې سره سم د ساختماني او ترمیماتي پروژو د تطبیق له بهیر څخه په بېلابېلو وختونو کې څارنه؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۵ بابه ښوونځیو د موسساتو او ۱۲ بابه ښوونځیو د بودیجې له لارې تطبیق شوي دي او په بیلابیلو وختونو مې دساتنې، خوندیتوب او د څمکو مدیریت لخوا څارنه شوې.

**۴,۱۳ فعالیت: د ځمکو د انتقال په موخه د ۱ پروتوکول لاسلیک کول او د زراعت له محترم وزارت او ښاروالیو څخه د ۱۰۵۰ جریبه ځمکو غوښتل؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د امیرالمؤمنین حفظه الله د (۷۸۹۶) ۳ / ۹ /۱۴۴۴ فرمان له مخې له یوې اداري څخه بلې اداري ته د ځمکو انتقال بند دی. د نورو معلوماتو لپاره دې ۷ نمبر ملپاتې ته مراجعه وشي.

**۴,۱۴ فعالیت: د لغمان ولایت په کچه د پوهنې د کرایي ورکړل شویو او نیول شویو جایدادونو د قراردادونو چارو څخه څارنه او مدیریت ترسره کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د لغمان ولایت پوهنې ریاست اړوند ٦ بابه کورونه د مرکز، ۱۰ بابه دولت شاه، ۱ باب قرغیو، ۱ باب علیشنگ او ٦ بابه علینگار ولسوالۍ کې، چې ټولټال ۲۴ بابه کرایي کورونه کېږي د تدارکاتو مدیریت لخوا په کرایه نیول شوي او کارونه یې بشپړ شوي دي.

**۴,۱۵ فعالیت: د اسلامي امارت او همکارو موسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د تخنیکي نظر څرگندول.**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د اسلامي امارت له لورې پراختیايي بودیجه نه ده منظوره شوې او همکارې موسسې د( yvo ) لخوا علینگار پوهنې آمریت اړوند درې بابه ښوونځي عبارت دي له سلینگار، منډال او انجینر شیرمحمد لیسه او همدارنگه قرغیو پوهنې آمریت اړوند د قرغیو نجونو لیسه او قرغیو پوهنې آمریت د ترمیماتو پروژو په برخه کې تخنیکي نظر ور کړل شوی دی او ترکار لاندې دي.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵,۱ فعالیت: د پوهنې وزارت د معینیتونو سره د دریم او څلورم بستونو د ازموینو په هکله همغږي؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې وزارت د دریم او څلورم بستونو ازموینه په خپله اخلي او کومه همغږي تر اوسه پورې نده شوې.

**۵,۲ فعالیت: د همکارو موسسو او نورو غیر دولتي ادارو سره د تفاهم نامو د یادښت طی مراحل کول او د هوکړه لیکونو لاسلیک کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې یاد فعالیت نه دي ترسره شوی ځکه چې نوموړی فعالیت پوهنې وزارت لخوا ترسره کېږي.

**۵,۳ فعالیت: د لغمان ولایتي ادارو د ټولو مکتوبونو، فرمانونو، مصوبو او طرزالعملونو د لېږد را لېږد په برخه کې دوامداره همغږي او د اړیکو ټینگول؛ او د کابل ښار او ولایتونو د پوهنې ریاستونو د پیشنهادونو طی مراحل کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې ۹۷۲ متحدالمال مکتوبونه او متفرقه ۹۲۲ مکتوبونه تعقیب شوي دي، ۳۱۷۵ سندونه وزارت ته لیږل شوي دي ۱۸۹۹ سندونه پوهنې ریاست ترلاسه کړي دي، په مجموعي توگه ۱۸ فرمانونه، ۱۸ حکمونه او ۲۰مصوبې راغلي ۲۰۷ وړاندیزونه د پوهنې جلیله وزارت اړوندو معینیتونو ته لیږل شوي دي.

**۵,۴ فعالیت: د لغمان ولایت څخه د تر لاسه شویو راپورونو تعقیب، کنترول او انسجام او د پوهنې د کارکوونکو د داخلي خدمتي سفرونو تنظیمول**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د پوهنې جلیله وزارت د مختلفو ریاستونو هیئتان ۹ ځلې لغمان ولایت پوهنې ریاست ته سفرونه کړي چې په پوره ډول هر یو ته وضاحت ورکړل شوی دی ۱ـ دکېفیت تضمین معینیت څخه د ارزونې په خاطر هیئتانو راتگ، د اسلامي زده کړو معینیت څخه خلورتنو د (صرف او نحوې ) مضامینو د ازموینې سیالۍ ترسره کولو په موخه، د اداري لوی ریاست څخه د خالي بستونو د ازموینې شارټ لست په موخه دلغمان پوهنې ریاست ته راغلي وه. د اساسي او ثانوي ریاست د ښوونځیو روغتیا آمریت څخه دوه تنه هیئتانو دیوار منگ د کمپاین په موخه راتگ، د ښوونکو مسلکي پراختیا ریاست څخه دوه تنه هیئتانو دساینس او ریاضیاتو ۱۰ ورځینې ورکشاپ په موخه سفر، د تعلیمي نصاب مسلکي پراختیا ریاست څخه د مدیرانو، ښوونکو او سرښوونکو زده کړه ایز ورکشاپ په موخه

راتګ، د پلټنې رياست څخه ۵ تنه هئيتانو زده کړه ايز ورکشاپ په موخه راتګ، درې تنه هئيتان د ننګرهار ولايت څخه د ديني مدرسو د څارنې او ارزونې په موخه لغمان ته سفر کړی وو او همدارنګه د اسلامي زده کړو معينيت څخه يوتن مميز دعلماوو کرامو د ازموينې په موخه سفرکړی

د لغمان پوهنې رياست کارکوونکي ۱۲ ځلې د پوهنې جليله وزارت ته په مختلفو موضوعاتو کې سفرونه شوي دي او د اسنادو شمېر يې ۱۲ ته رسيږي .

**۵,۵ فعاليت: د لغمان ولايت د پوهنې رياست د ترلاسه شويو اسنادو هر اړخيزه کتنه او اړونده مراجعو ته يې استول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ۸۵۴ سندونه مرکز او ولسواليو پوهنې آمريتونو د ارشيف له لارې ترلاسه شوي او ۹۰۸ سندونه صادر شوي او پدې باندې هر اړخيزه کتنه او اړوندو مراجعو ته استول شوي دي.

**۵,۶ فعاليت: د کوچيانو د ښوونيزو چارو د ملاتړو او تقويتي پروګرامونو تنظميول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې ياد فعاليت نه دی ترسره شوی ځکه چې ياد فعاليت د پوهنې محترم وزارت له لورې تر سره کېږی.

**۵,۷ فعاليت: د دفتري کارونو څخه مديريت، د واحدونو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول او د ولايتونو پوهنې رياستونو ته د رهبرۍ د ځانګړو لارښوونو او پريکړو ابلاغول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې دلغمان ولايت مقام څخه ۷ پريکړې، د پوهنې وزارت د رهبرۍ لخوا ۲ پريکړې او ځانګړې ۳ پريکړې ترلاسه شوي دي او همدارنګه د دفتري کارونو د تنظيم څخه ۵۰٪ څارنه تر سره شوې ده.

**۵,۸ فعاليت: د لغمان ولايت او ولسواليو په کچه د عملياتي پلانونو تحليل، انسجام او توحيدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د لغمان ولايت او ولسواليو په کچه د عملياتي پلانونو تحليل، انسجام او توحيدولو په برخه کې د برنامو او ولسواليو په کچه عملياتي پلان ترتيب او د لوړ مقام تر منظورۍ وروسته اړونده څانګو ته تکثير شوی دی.

**۵,۹ فعاليت: د لغمان ولايت په کچه د ښوونيزو مرکزونو د جوړولو د ملي پلان تحليل، انسجام او توحيدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د لغمان په ولايت په کچه د ښوونيزو مرکزونو د جوړولو د ملي پلان تحليل، انسجام او توحيد په برخه کې د پلان مديريت له لورې ۱۴ ښوونيزو مرکزونوپروژو پلان چمتو شوی او پوهنې وزارت مقام ته استول شوی دی.

**۵,۱۰ فعاليت: د لغمان ولايت کچه د پراختيايي پروژو د کانسپت نوټونو تحليل، انسجام او توحيدول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د لغمان ولايت په کچه د پراختيايي پروژو د کانسپت نوټونو تحليل، انسجام او توحيدولو په برخه کې د انکشافي پروژو ۱۸ دانې کانسپت نوټونه تحليل، انسجام او له توحيد وروسته د پلان رياست او ذيربط اداراتو سره شريکې شوي دي.

**۵,۱۱ فعاليت: د پوهنې وزارت د پنځه کلن ملي پلان تسويد او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه د لغمان ولايت د پوهنې رياست سره شريکول؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د پوهنې وزارت د ۵ کلن ملي پلان مسودې او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه د لغمان ولايت د پوهنې رياست سره شريکولو په برخه کې د پلان مسودې د غنامندۍ لپاره د مشورې او نظر غوښتلو وروسته په توحيدي ډول شريک شوي دي.

**۵,۱۲ فعاليت: د لغمان ولايت پوهنې رئيس او د برنامو او ولسواليو پوهنې آمرينو د کاري پلانونو تحليل او انسجام؛**
د ۱۴۰۳ مالي کال ترپايه پورې د لغمان ولايت پوهنې رئيس، د برنامو او ولسواليو پوهنې آمرينو د کاري پلانونو د تحليل او انسجام په برخه کې د لغمان ولايت د پوهنې رئيس پلان د منظورۍ تکثير شوی او د هغه په رڼا کې د برنامو مسولين او ولسواليو پوهنې آمرين خپل پلانونه ترتيب او تنظيم کړي دي.

**۵,۱۳ فعالیت: د پوهنې وزارت تر چتر لاندې لغمان ولایتي واحدونو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه او د قوانینو مراعتول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال ترپایه پورې د ۱۴۰۲ مالي کال د لغمان ولایت پوهنې ریاست تا ځانګړې شوې بودیجې څخه پلټنه ترسره شوه چې په پایله کې د یاد کال لپاره ۷۰۰۸۹۱۰۴۸ (اوه سوه میلیونه، اته سوه یو نوي زره، اته څلویښت) افغانی تخصیص ورکړل شوی وو له دې جملې څخه ۶۸۷۱۴۳۰۲۵ (شپږ سوه اوه اتیا میلیونه، یو سل درې څلویښت زره، پنځه ویشت) افغانی مصرف شوي او ۱۳۷۴۸۰۲۳ ( دیارلس میلیونه، اوه سوه اته څلویښت زره، درویشت) افغانی دوره یې پوهنې وزارت ته سپارل شوي دي.

**۵,۱۴ فعالیت: د عدلي او قضایي ارګانونو د قرار کشفي ځانګړو قضایاؤ بشپړول او د پوهنې وزارت تر اغیز لاندې واحدونو، بهرنیو ادارو او اشخاصو لخوا د وړاندې شویو شکایتونو او راپورونو کتنه؛**

د ۱۴۰۳ کال د دڅلورمې ربعې تر پایه پورې لغمان پوهنې ریاست پنځه ځانګړي موضوعات بررسي کړي دي. ۱ موضوع: د دولت شاه ولسوالی د پوهنې آمریت اړوند د زر کمرد احسن العلوم دیني مدرسې یو تن رضاکار ښوونکې خدای نظر د ولي داد زوی یوه ځانګړې موضوع چې په ۱۴۴۵/۱۰/۱۳ نېټه د پوهنې ریاست پلټنې مدیریت د دوه تنه مسلکي غړو لخوا بررسي شوې اوراړوند اداراتو ته د اجرااتو اطمینان ورکړشوی دی. ۲ موضوع: د دولت شاه ولسوالی د پوهنې آمریت اړوند د زر کمرد احسن العلوم دیني مدرسې یوتن رسمي ښوونکې حبیب الله د قباد د زوی یوه ځانګړې موضوع چې په ۱۴۴۵/۱۰/۱۳ نیټه د پوهنې ریاست پلټنې مدیریت د دوه تنه مسلکي غړو لخوا بررسي شوې او اړونده اداراتو ته د اجرااتو اطمینان ورکړشوی دی. ۳ موضوع: د دولت شاه ولسوالی دپوهنې آمریت اړوند د زر کمرداحسن العلوم دیني مدرسې مهتمم قاري عبدالله د غلام فاروق د زوی یوه ځانګړې موضوع چې په ۱۴۴۵/۱۰/۱۳ نیټه د پوهنې ریاست پلټنې مدیریت د دوه تنه مسلکي غړو لخوا بررسي شوې او اړونده اداراتو ته د اجرااتو اطمینان ورکړشوی دی. ۴موضوع: د مرکز ښوونیزې حوزې اړوند پیرابابا منځنې ښوونځې ښوونکې محمداګل د ماڼوګل د زوی یوه ځانګړې موضوع چې په ۱۴۴۵/۱۰/۱۳ نیټه د پوهنې ریاست پلټنې مدیریت د دوه تنه مسلکي غړو لخوا بررسي شوې او اړونده اداراتو ته داجرااتو اطمینان ورکړشوی.

۵ موضوع: مشفیق الله د نقیب احمد زوی چې اوسمهال د روښان عالي لیسې څخه فارغ شوی دی، په (۱۴۰۰_ ۱۴۰۱ ) کال کې د لسم ټولګې کې د مشروط کېدولو قضیه د پوهنې ریاست د پلټنې مدیریت مسلکي غړو له لوري هر اړ خیزه بررسي کولو څخه وروسته اړونده مراجعو ته اطمینان ورکړل شوی دی.

